# دپوهـنـی وزارت

داسلامـــــــی زده کـــړو معینیـت

دنظارت اوبرنــامـــــــو ریاست

# بنه پایله

## دهغی وسیلی ، نبنی اوبدی پایلی څخه ځان ساتل

Ketabton.com

ترتیبوونکی : معاون مدرس: محمد بشیر "مدنی"

۱۳۹۵ هجری شمسی کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دپیل خبری

داښکاره خبره ده چی انسان د نورو مخلوقاتو په څنګ کی یو مخلوق دی چی الله جل جلاله ورته عقل ور کړی دی نو ددی لوی نعمت( عقل ) په مقابل کی مکلف ګرځول شوی دی . انسان مکلفول ددی تقاضاکوی چی دده دعمل اوکارپه بدل کی باید دیته بدله ورکړی شی چی داعقلی دلیل د مجازات هم دی چی شرعی نصوص پری ګواه دی ، دانسان ټول ژوند په دنیا کی چی څومره پړاوونه اړه وی اوپری تیریږی ده ته په بدل کی یا نیکی اویاهم بدی لیکلی کیږی خو آخره مرحله اوپړاو دانسان دژوند خورا اهمیت لری څکه چی دانسان خاتمه په هرعمل باندی چی وشی په هغی باندی ټول عمر ورته قیاس کیږی، په کوم عمل باندی چی انسان له دنیا څخه سترګی پټی کړی په هماغه عمل باندی مشغول وی اوپه همغه سره له قبره پاڅیږی، یو انسان که په دنیا کی ئی څومره نیک کارونه ترسره کړی وی اوبیا په آخر عمر کی خراب شی اونیکو کارونو ته شا وګرځوی نو ددی انسان آخره خاتمه خرابه شوه ، اوکه یو انسان په ټول ژوند کی ښه کارونه ترسره کړی نه وی اود ژوند په آخری پړاو کی نیکیو ته مخ وګرځوی عمل اوکارونه یی ټول دشریعت موافق تیرشی نوددی انسان پایله اوخاتمه ښه بلل کیږی څکه چی داعتباروړ کارآخره خاتمه دانسان ده ، ددی کبله چی خاتمه دانسان په ژوندکی لومړی توب لری نوباید چی دښی پایلی دتقویت لاملونه پیداکړو ترڅو وکولای شو چی دهغی په مرسته خپله پایله نیکه اوروښانه کړو، ددی ترڅنګ څنی عوامل نورهم شته دی چی دښی پایلی موانع بلل کیږی هغه هم باید وپیژنو تر څو دهغوڅخه پرهیز او اجتناب وکړو، ددی په اخر کی باید د پیغمبرصلی الله علیه وسلم دهغه مبارک حدیث په رڼاکی چی فرمائی : )مَنْ لمْ یشْکُر النَّاسَ لَمْ یشْکُر الله (رواه الترمذي في کتاب البر والصلة ، نوترهرڅه مخکی د اسلامی زده کړو دقدرمن معین صاحب څخه مننه اوقدردانی کوم چی دغه مبارکه پروسه ئی پیل کړه اوبیا د نظارت اوبرنامو دعمومی رئیس صاحب څخه مننه کوم چی ددی رسالی د پشپړیدو دمراحلو د ترسره کیدو لاره ئی راته پرانیسته او هم داډول دخپل لارښود استاد ښاغلی ضیاءالحق حیدری څخه مننه کوم چی ددی رسالی ترپایه ئی زما لارښوونه کړی اوهمدارنګه دټولو هغو دوستانوڅخه مننه کوم چی ددی رسالی په پشپړیدوکی ئی راسره مرسته کړی الله جل جلاله دټولوته اجرعظیم ورکړی .

## درسالی لنډیز:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کومه رساله چی زما مخ ته ایښی ده خلاصه اولنډیزئی په لاندی ډول سره وړاندی کیږی هغه داچی:**

الف :هرانسان دخپل ژوند دپیل څخه تراخری لحظی پوری کوم عمل چی ترسره کوی هغه که ښه وی یابد ټول پری حساب دی او دهغه په رڼاکی به ورسره یاجنت اویاهم دوزخ ته د تللو پریکړه کیږی چی ددی لپاره می دغه عوامل یا لاملونه ذکرکړی دی : دښی پایلی تعریف اودهغه نښی ،دښی پایلی نښی دقران کریم له نظره ، دحدیث شریف له نظره، دالله جل جلاله ملاقات خوښول، گناه ته په کمه سترگه نه کتل، په الله جل جلاله باندی ایمان لرل ورته خوښ وی،دغزا په حالت کی مړکیدل،داحرام اوحج په حالت کی مړکیدل،پداسې حالت کې مړ شي چې د الله جل جلا له په طاعت بوخت وي،د پنځو ځیزونو څخه ددفاع دپاره دخپل ژوند نه تیریدنه،که پداسې حال کې مړ شي چې په یوه وبايي مرض اخته وي،طاعون ،سل( نری رنځ)، دنس درد ، د انسان د څنگ ناروغي،کومه ښځه چی په اولاد مړه شی شهیده ده، د اوبو په وسیله غرقیدل یا په اور سوځیدل، او یا د کوم شی په نړیدو باندی مرشی، دجمعې په شپه او دهغې په ورځ مرگ، د مرگ په وخت کې د توحید د کلیمې ویل دي ،او شروط ئی دادی : علم ،یقین ، اخلاص ، صدق ،انقیاد ، قبول والی او منل، الکفر بالطاغوت ،

ښی پایلی ته هڅونه د مبارکو آیتونوپه رڼاکی، دښی پایلی سببونه ،دالله جل جلاله إطاعت، دعا کول ،إصلاح دباطن اوظاهره ، استقامت ، په الله جل جلاله باندی ښه گمان کول، تقوی او دالله جل جلاله څخه په هرحالت کی ویریدل ،صدق اوریښتینولی ،توبه کول الله جل جلاله ته، دالله جل جلاله په طاعت او عبادت همیشوالی او دوام ، دمرگ یادول او لږ امید لرل ، دبدی پایلی دسببونودترسره کولوڅخه ځان ساتل، په ښکاره او پټه باندې د الله جل جلا له څخه وېرېدل ، همیشه الله جل جلا له یادول، دعبرت لپاره دقبرونو زیارت کول ،دمړي پریمنځل اوپه جنازه کې ئې گډون کول ،بده پایله اودهغه نښی، پخواني نیکان به د بدی پایلې (خاتمې) څخه ډېر وېرېدل، دبدی پایلی اسباب ، وروسته والی په توبه کی ، دسوف لفظ ، د گناه سره مینه او په هغې ځان عادت کول- اوږدې هیلې،پخپله ځان وژل، بد ملگری،دځینی وبائی مرضونو وضاحت ،طاعون ( وبا، کولرا)،دسل مختلف ډولونه ،،،،

ب : دڅیړنی طریقه :

څرنگه چی ښه پایله بوه داسی گټوره علمی رساله ده – زماپه نظر- چی باید هرمسلمان ئی دخپل ژوند مشال وگرځوی اودغه رساله دکتابتون لپاره ډیرمناسب کتاب دی طرز ئی توصیفی دی څکه چی هرنص می دخپل مرجع څخه اخستی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی او او که تاسو ورته وګوری نو زیاتره مراجع دعربی ژبی دی چی بیا دغه ټول نصوص پښتو ژبی ته ژباړل شوی چی ژباړه

پخپل ذات کی یو ستونزمن کاردی او ددی رسالی هرعنوان که اصلی دی یا فرعی د خبل مصدر او منبع نه می نقل کړی

دقرآن کریم دمبارکو آیاتونو دسورت نوم او نمبرمی ذکر کړی نبوی مبارک احادیث می دخپل مصدر څخه په پشپړ ډول

حتی الوسع تخریج کری دی .

ج : دڅیړنی دنتائجو ارزښت :

ددی رسالی د نتایجو دارزښت په هکله می دغه څو ټکی یادکړی دی چی څینی ئی به ډیرلنډ ډول دادی :

- دانسان دټول عمرکړني دهغه په پایله کی نغښتی دی ،ا وپه همغه ورسره فیصله کیږی .

- دانسان دښی پایلی لپاره په لارکی خنډونه شته چی انسان باید دغه خنډونه لری کړی اوخپله آخره خاتمه ښه کړی.

- څنی داسی مرضونه اوآفتونه دی چی انسان ته په ظاهره کی بد ښکاری او نه یی خوښوی خو په حقیقت کی هغه ټول

دانسان دآخرت ښه والی لپاره مقرر شوی دی لکه هغه مرضونه چی پدی رساله کی ترینه بحث اوڅیړنه شوی ده

- پایله دانسان مهم اوحساس پړاو دی چی ددی پړاوڅخه تیریدل لویه مبارزه غواړی دشیطان په مقابل کی ددی وجی نه

شیطان انسان ته هیلی او امیدونه اچوی چی داد مهمولاملونوڅخه ګڼل کیږی . په دی څیړنه کی دقبر اومړو سره سروکار

لرل یاد شول چی همیشه دانسان په ذهن کی مرګ یاد وی ترڅو وکولای شی چی دشیطان په مقابل ودریږی او دهغی له

وسوسو سره دهلاکت په کنده کی ونه غورځیږی .

د الله جل جلاله په لوی فضل او کرم سره می دغه علمی رساله پای ته ورسوله الله جل جلاله د دغی رسالی ویونکی اوګټه

اخستونکی ته اجر ورکړی اللهم آمین.

## سریزه

الحمد لله وحده والصلاة والسلام علی من لانبی بعده وبعد !

د هغه الله جل جلا له په نامه چې رحمت يې هر څيز ته رسيدلی دی او هر څه يې شميرلي ،دخپلو بندګانو څخه يې په هغه

چا رحم وکړاو په دنيا کې يې هغه څه ورته برابرکړل چې د اخرت درجې پرې لوړيږي او دا هغه څوك دي چې د الله جل جلا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

په طاعت یې همیشه والی وکړ او په عبادت کې یې کوښښ وکړکه راحت، خوشحالي ورته ورسیږي د الله جل جلا له شکر ادا کوي دا ډېرورته ښه اوغوره کاردی، که تکلیف ، غم او خفګان ورته ورسیږي صبرپرې کوي،

دموضوع اهمیت: دانسان ژوند په دنیا کی دیوي خاصي موخی لپاره دی چی هغه دالله جل جلاله عبادت دی ددی نتیجه دعمرپه آخره لحظه کی معلومیږي دژوند دغه مرحله د انسان لپاره خورا اهمیت لری چی دژوند لپاره د آخرنی مهر حیثیت لری او دټول ژوند پړاوونه په همدی خاتمه اوپایله باندی قیاس دی. دا دپایلی اهمیت ته اشاره کوی نوپکاردی چی خپله پایله په هره طریقه چی وی الله جل جلاله ته عذر،زاری اوژړا وکړو تردی چی ښه پایله ولرو .

اوس پوښتنه داده چی دانسان دعمر تر ټولو حساس پړاو کوم دی ؟ آیا دانسان ټول ژوند یو شان دی او که خپلو کی توپیر لری ؟ آخره مرحله دانسان دژوند لپاره دکومو څانګړو اهمیتونوڅخه برخه من دی ؟ دا هغه پوښتنی دي چی ددی تحقیق لاندی موخود لاسته راوړلو څخه وروسته ځوابیږي.

دتحقیق موخی: ددی تحقیق موخی زیاتی دی خو په لنډه توګه لاندی موخی ترټولو خورا مهمی ګڼل شوی دی: دډېرو مسلمانانو ظاهري جامه غربي لباس وګرځید اوباطنی معامله دهر مسلمان دالله جل جلاله سره ده ،له دې سره جوخت زموږ د ټولنې ډېر وګړي په هغو هلاکوونکو ګناهونو اخته شول چې کول یې په ټولنه کې یو عادي کار ګرځیدلی او څوک اصلاً ورته ګناه نه وایي ،د ساري په ډول بهتان ، غیبت د یتیم حق خوړل، سود، رشوت او داسې نور چی هر څوک یې پخپله ویني او هم یې پخپله کوي نو ما خپل دیني مسؤلیت او لازمي دنده وبلله ترڅودغه رساله دعلمی رتبی چی د مرستیال مدرس څخه مدرس ته دلوړیدلو له امله می ترتیب کړه د الله جل جلاله په لوی فضل او کرم سره می پای ته ورسیده ښایی کوم مسلمان ورور ئی ولولی او ګټه تری پورته کړی په پای کی دګناهونو لار پرېږدي او دخپل اخرت په ښه کولو کې هڅې وکړي او ماته یې الله جل جلاله اجر راکړي. بله داچی هرمطالعه کونکی انسان پدی باندی زیار وباسی تردی چی وکولای شی په آخر عمر کی په نیکیو عادت شی او په همدی حالت وفات شی. نیکی پایلی خپل اسباب لری ددغی اسبابو په برابره ولو کی هرڅوک باید ښه کوښښ وکړی تردی چی دښې پایلی درلودونکی شی. همدا راز بده پایله هم شته اودهغی اسباب او عوامل هم شته دی ، پدی رساله کی بله موخه هم داده چی ددغی بدی پایلی اسبابو او عواملو ته باید هر مسلمان یو خوا ته شی اونیک عملونه پرېږدی بلکی باید دخپل توان مطابق هڅه وکړی ترڅو وکولای شی چی د خپلونیکو اعمالو په کولوسره دنیکی پایلی درلودونکی شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکینی لیکنې :

دښې پایلې په اړه ډیرې لیکنې شویدی چې ټولې په عربې ژبه دی ځینې ئې دادی :

علامات وأسباب حسن الخاتمة وسؤ الخاتمة / خالد بن عبدالرحمن الشايع ( معاصر) ،علامات سؤالخاتمة قبل موته وعندالتغسيل للشيخ ندا أبواحمد (معاصر)- حسن الخاتمة لعبدالله بن محمد المطلق ( معاصر)- رسالة فى حسن الخاتمة لمحمد شامى شيبة ( معاصر)دا دسارې په ډول یادشول خو په پښتو ژبه فکرنکړم بل چا به لیکلی وی.

درسالې کړنلاره :

دغه رساله دجوړښت په لحاظ په لاندې ډول ده : دغه رساله په لاندې مطالبومشتمله ده چې دوه فصلو نه لرې په لومړی فصل کې دنیکې پایلې تعریف، عوامل، نښې دقران اوحدیث له نظره تربحث لاندې نیولې شوی دی په دویم فصل کې بدې پایلې ته اشاره شوی ده چې په هغې کې دبدې پایلې اسباب اوعوامل دقران اوحدیث له نظره ذکر شوی دی اوبیا په دوهم فصل کې دامام زین العابدین هغه زرینې ویناوی ضمنا ذکرشوی دی چې دموضوع سره کلکه رابطه لرې .ددویم فصل په آخر کې هغه وباپې مرضونه ذکر شوی دی چې دانسان په نیکه پایله باندې دلالت کوی. او په آخر کې دبحث خاتمه ذکرشوی اوپه پای کې منابع ذکرشوی دی .

ومن الله التوفيق

# لومړی فصل: نیکه پایله اودهغې عوامل

## لومړی مبحث: دښې پایلې تعریف اودهغه نښې سره دهڅونې ښې پایلې ته :

### ۱- دښې پایلې تعریف :

ښه پایله پدې معناده چې یو بنده دخپل مرګ څخه وړاندې پدې سره بریالی شی ترڅودخپل رب ( الله جل جلاله ) دقهر اوغصې نه لرې شی ، دګناهونواوخطاګانوڅخه توبه وباسی ، دنیکیو او صالحوعملونوخواته مخه کړی اوبیاپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ښه حالت سره وفات شی. لکه چی دنبوی صلی الله علیه وسلم په ارشاداتوکی راغلی چی کله خدای جل جلاله په یوه بنده دخیر اراده وکړی نوهغه په خیرکاروکی استعمالوی.

## ۲- دښی پایلی نښی:

### دښی پایلی نښی دقران له نظره :

۱- الله جل جلاله فرمائی : { إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ } فصلت: 30 ژباړه : بیشکه هغه کسان چی ئی ویلی دی رب زموږ الله جل جلاله دی بیامحکم ولاړوی پدی خبره باندی ، راکوزیږی به په دوی باندی ملائیکی چی مه ویریږی اومه خفه کیږی اوخوشحاله اوسی په هغه جنت چی وی تاسی وعده به ئی درسره کولی شوه. دغه زیری دمؤمنانولپاره دمرګ په وخت، په قبرونواو دقبرونو څخه دراژوندی کیدو په وخت کی حاصلیږی.دمرګ په وخت کی جاته د جنت وعده ورکول اوهمدارنګه دمړی روحیه تقویه کول ترڅو هغه په امن کی وی دالوی نیک بختی دی انسان لپاره ددی وجی نه دا دانسان دښه پایلی ښکارندوی دی .

۲- { وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿۱۶۹﴾ فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿۱۷۰﴾يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ }﴿۱۷۱﴾

ژباړه: او له سره ګومان مه کوئ ( ای محمده یا ای اوریدونکیه ) پر هغو کسانو چې وژل شوي دي په لاره د الله جل جلا له ( جهاد او طاعت ) کې د مړو ( مړه نه دي) بلکې ژوندي دي په نزد د رب خپل رزق ورکولی شي ( د جنت له خوړو او څښو څخه ) پداسې حا ل کې چې خوشحاله دي دوی په هغه شي باندې چې ورکړي دي دوی ته الله جل جلا له له فضله خپله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خوشحالیږي دوی ( په راتلو د) هغو کسانو باندې چې لا نه دي رسیدلي دوی، ترهغو پورې وروسته ددوی نه ،په دې شان سره چې نه به وي. داهغه نیکه پایله ده چې دالله جل جلاله دکلمې پورته کولو په خاطر خپل ځان یې له لاسه ورکړی.اودهغې په عوض کې خدای جل جلاله ورته دجنت وعده ورکوی اوچاته چې په دنیا کې دجنت وعده وکړی شو دانسان نیک بخته او ښه پای لرونکی انسان دی نو ویلای شوچې خوک دخدای جل جلاله دکلمې اچتولو په خاطر خپل ځان یې له لاسه ورکړدا انسان دښه پای لرونکی انسانانو له جملې څخه دی.**

**دحدیث له نظره :**

## 1- دالله جل جلاله ملاقات خوښول:

عن أم المؤمنين عَنْ عَائِشَةَ، قَالتْ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. " مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ أَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ، وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ كَرِهَ اللهُ لِقاءَهُ ". فَقُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ، أَكَرَاهِيَةُ المَوْتِ؟ فَكُلُّنَا نَكْرَهُ المَوْتَ. فَقَالَ. " لَيْسَ كَذَلِكِ، وَلكِنَّ المُؤْمِنَ إِذَا بُشِّرَ بِرَحْمَةِ اللهِ وَرِضْوَانِهِ وَجَنَّتِهِ، أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ، فأَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ. وَإِنَّ الكَافِرَ إِذَا بُشِّرَ بِعَذَابِ اللهِ وَسَخَطِهِ، كَرِهَ لِقاءَ اللهِ، وَكَرِهَ اللهُ لِقاءَهُ متفق عليه . "[1]

**ژباړه : دحضرت ام المؤمنین عائشی رضی الله عنها څخه روایت دا وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې : چاچې دالله جل جلاله ملاقات خوښاوه نو الله جل جلاله هم ددغه ملاقات خوښوی ، او چاچې دالله جل جلاله ملاقات ناخوښ باله الله جل جلاله هم ددغه شخص ملاقات نه خوښوی ، حضرت عائشه وائی ماورته وویل : ای دالله نبی ! آیا دمرګ د ویری له امله ؟ موږ ټول مرګ نه خوښوو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : داسی نده ، کله چې مومن ته دالله جل جلاله درحمت ، رضامندی ، او جنت ته داخلیدو زیری ورکړل شی نو دالله جل جلاله ملاقات ورته خوښ شی شوق**

---

[1]. متفق علیه امام بخاری په خپل صحیح کې په " (6507)، نمبر او امام مسلم په (6508)، (2683 - 2686)، نمبرونو روایت کړی دی اامام بخاري په کتاب الرقاق،ا و امام مسلم په کتاب الذکر والدعاء، دواړو په باب: من أحب ..... کې روایت کړی دی . [1]

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورغبت ئی ورته پیدا شی ، اوکله چی کافرته دالله جل جلاله دعذاب اوقهرزیری ورکړل شی نودالله جل جلاله ملاقات بد وبولی اوالله جل جلاله هم ددغه شخص ملاقات بدوبولی .ددغه مبارک حدیث شریف په هکله امام أبوعبید القاسم بن سلام ویلی دی چی : زما په نظر دمرګ بدګڼل اوسختی تری مطلب ندی ځکه ددی څخه هیڅوک هم نه خلاصیږی ، بلکی بد او ناوړه کاردادی چی دنیا ته غوره والی ورکړی او اخرت ته ورتګ بد وبولی ، داځکه چی الله جل جلاله هغه خلک بد ګڼلی دی چی د ژوند سره مینه لری لکه چی فرمایی: {إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا وَرَضُوا بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاطْمَأَنُّوا بِهَا وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ}یونس: ۷ آیت .

ژباړه : بیشکه هغه کسان چی امید نلری دملاقات زموږه اوخوښ شوی دی پدی تېول ژوند د دنیا او آرام ئی نیولی دی په دی پوری( ژوند ددنیا ) .بل خبره داده چی انسان ترڅوخپل ځان مطمئن ونه بولی چی څما آخرت ښه دی ترهغی پوری دی نه مرګ خوښوی اونه دخدای جل جلاله دیدار اوملاقات.اودایو ډول ښه ګمان کول دی په خدی جل جلاله باندی چی ماسره ښه معامله کوی نودخدای جلا جلاله ملاقات خوښوی که بد ګمان ولری نو هیڅ کله به دخدای جلا جلاله ملافات خوښ نکړی.

## 2- ګناه ته په کمه سترګه نه کتل :

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ حَدِيثَيْنِ أَحَدُهُمَا: عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَالآخَرُ عَنْ نَفْسِهِ قَالَ إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرَى ذُنُوبَهُ كَأَنَّهُ قَاعِدٌتَحْتَ جَبَلٍ يَخَافُ أَنْ يَقَعَ عَلَيْهِ[2] ژباړه: موږته عبدالله دوه حدیثونه ویلی دی چی یوېی دپیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه اوبل یې دخپل طرف څخه روایت کړی دی چی : مؤمن هغه څوك دی چې خپل ګناهونه داسې ويني لکه د یوه غره لاندې چې ناست وي او ددې څخه په وېره کې وي چې پرې را وبه لوېږي. او ډېر خلك داسې دي چې په کوچینی ګناه تېنګار کوي او دهغې سره عادت شوي وي او هیڅ ورته ښکاربږي او یوه ورځ یې هم داسې فکرونکړچې هغه ذات څومره لوی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عظمت څښتن دی چې ده یې نافرماني کړې ده او دا ګناه یې د بدی پایلې لامل شي. ددی حدیث څخه معلومه شوه چې څوک ګناه ته په درنه سترګه ګوری نودغه سړی ښه پایله لری. حال داچې ګناه ګرچې وړکی وی باید سترګناه وشمیرل شی.

بل روایت کی راغلی"عَنْ أَنَسٍ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ إِنَّكُمْ لَتَعْمَلُونَ أَعْمَالاً هِيَ أَدَقُّ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنَ الشَّعَرِإِنْ كُنَّا نَعُدُّهَا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم من الْمُوبِقَاتِ."[3] ژباړه: حضرت انس بن مالك رضی الله عنه وېلي دي بيشکه تاسو ځينې داسې کارونه کوئ چې ستاسو په وړاندې به د یوه وېښته په اندازه هم ارزښت نلري او ګناه يې نه ګڼې مګر مونږ به د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په وخت کې د لويو هلاکوونکو ګناهونو څخه ګڼل. امام بخاري وايی مطلب يی هلاکوونکی ګناهونه دی .

۳- الله جل جلاله باندی ایمان لرل ورته خوښ وي :

"عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ ، وَجَدَ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ أَنْ يَكُونَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَأَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِكَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ"[4]

ژباړه : دحضرت أنس رضی الله عنه روایت دی چی پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایی : دری صفات دی چاکی چی موجود شول نوویه څکی پدی سره هغه خوند اوخوړ والی دایمان اوهغه دری شیان دادی :

اول صفت دایمان : چی الله جل جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم ورته ډیر زیات ګران اومحبوب وی دهرچا نه او دهرڅه نه . دوهم صفت دایمان دادی : چی مینه اومحبت دچا سره نه کوی مګر د الله جل جلاله لپاره . دریم صفت دایمان دادی : چی بد وګڼی اوریدل کفر اوهری بی دینی ته وروسته دهغی نه لکه څنګه چی دا خبره بده ګڼي چی اورته

---

١ - امام بخاری په کتاب الرقاق، باب ما يتقي من محقرات الذنوب: 11 / 329، کی روایت کـړی دی .
1- صحیح امام بخاری کتاب الایمان باب حلاوة الإیمان د حدیث 16نمبرروایت کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغورځول شی ( یعنی پخپل ایمان ډیرکلک وی لکه څنګه چی په اورکی غورځیدل ورته سخت تمامیږی ) .دادری نښی چی په کوم انسان موجود وی دا انسان مسلمان شمیرل کیږی او دده دښه پایله نښه اوعلامه دی.

## ۴- دغزا په حالت کی مړکیدل:

په یو حدیث کی دی "من قُتِلَ فِی سَبِیلِ اللَّهِ فَهُوَ شَهِیدٌ"5 ژباړه: څوک چې د الله جل جلا له په لارکې ووژلی شي شهید دی او څوك چې دالله جل جلا له په لارکې وتلی وي او بیا په خپل مرگ مړشي شهید دی. ددی حدیث شریف څخه معلومیږی چی هرهغه څوک چی دالله جل جلاله په لاره وتلی وی ولو چی دهرنیک عمل په مقابل کی وتلی وی که هغه جهاد دالله جل جلاله په لاره کی وی یا دعوت په لاره کی وی ولو چی هره شعبه کی وی.

## ۵- داحرام اوحج په حالت کی مړکیدل:

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغه سړي په هکله چې د حج دپاره یې احرام تړلی و او بیا د اوښې څخه وغورځېده وفرمایل :

« اغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍوَكَفِّنُوهُ فِی ثَوْبَيْهِ وَلاَ تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ فَإِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا ».[6] ژباړه: د بیرې پانې په اوبو کې ګډې کړی او بیا یې پرې ومینځئ او له دوه جامو څخه یې کفن ورکړئ او سریې لوڅ پریږدی ځکه چې د قیامت په ورځ به د کلیمې ویلو په حالت ژوندی کیږي.

---

2- متفق علیه :امام بخاري په کتاب المظالم، باب من قتل دون ماله، حدیث نمبر (2480).او امام مسلم (141) نمبر کتاب الإیمان، باب: هدر دم من قصد أخذ مال غیره بغیر حق کان القاصد مهدر الدم، نمبردحدیث 141. . روایت کـړی دی .

۱- صحیح مسلم په ۱۲۰۶نمبرروایت کړیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۶- :- پداسې حالت کې مړشي چې د الله جل جلا له په طاعت بوخت وي:

حذيفه رضی الله عنه ويلي دي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: أَسْنَدْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم إِلَى صَدْرِى، فَقَالَ: مَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. قَالَ حَسَنٌ: ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ، خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ صَامَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ، خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ.

ژباړه: چاچې يواځې د الله جل جلا له د رضاء لاس ته راوړلو لپاره د (( لا اله الا الله))د مبارکې کليمې په ويلو سره خپل ژوند پای ته ور ساوه جنت ته به ننوځي او چاچې يوه ورځ يوازې د الله جل جلا له د رضاء لپاره د روژې په نيولو سره دخپل ژوند وروستي پړاو ته ورسيد جنت ته به ننوزي او همدا رنګه چاچې يواځې دالله جل جلا له درضاء لپاره خيرات او صدقه ورکړه او په همدې باندې يې خپل عمل پای ته ورساوه جنت ته به داخل شي.[7]

### ۷- د پنځو څيزونو څخه ددفاع دپاره دخپل ژوند نه تيرېدنه:

هغه شيان چې د اسلام مبارک دين د هغې ساتل په هر چا لازم کړيدي دادي: دين، نفس (ځان). مال، ناموس، او عقل دی .سعيد بن زيد رضی الله عنه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړيدی هغه مبارک وفرمايل او داسې ارشاد يې وکړ:" عن سعيد بن زيدٍ، عن النبي– صلى الله عليه وسلم– قال: "مَنْ. قُتِلَ دونَ ماله فهو شهيد، ومَنْ قُتِلَ دون أهلِه أو

---

۲ـ امام احمد بن حنبل مسند احمد بن حنبل ج ۵ ص ۳۹۱ روايت کړی امام البانی وائی صحيح دی اوامام منذری وائی : باک پری نشته (لا بأس به .)كتاب "صحيح"، الترغيب والترهيب (985)، سلسلة الاحاديث الصحيحة (1645).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دون دَمِهِ أو دون دِينِهِ فهو شهيدٌ"[8] ژباړه: دحضرت سعيد بن زيد رضی الله عنه څخه روايت دی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم چی فرمايلی ئی دی : څوك چې د خپل مال نه ددفاع په خاطرووژل شي شهيد دی، او څوك چې دخپل ناموس نه ددفاع په سبب ووژل شی شهيد دی، او څوك چي دخپل دين د ساتنې په خاطرووژل شي شهيد دی، او څوك چې دخپل ځان د ساتنې او حفاظت له وجې ووژل شي شهيد دی.**

### ٨- كه پداسې حال كې مړشي چې په يوه وبايي مرض اخته وي:

**په هغه صبروكړي او اجرېي د الله جل جلا له څخه غواړي چې ځينو ته يې پيغمبر صلى الله عليه وسلم اشاره كړيده او هغه دادي:**

### 1- طاعون :

**حضرت انس رضی الله عنه راويت كړيدی دی وايي چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "الطَّاعُونُ شَهَادَةٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ"[9] ژباړه: طاعون د هر مسلمان لپاره شهادت دی ( څوك چې په طاعون مرض مړ شي هغه شهيد دی .نوڅوك چې شهيد شی دينه غوره اوبهتره پايله په دنيا كی نيشته.**

---

١ ـ امام أبو داود په (2 / 275) مخ اوامام النسائي اوامام ترمذي په (2 / 316) مخ روايت كړی دی اوصحيح ئی بللی دی ، اوامام أحمد په (1652) 1653) نمبرد حضرت سعيد بن زيد څخه روايت كړی. ،اوسند ئی صحيح دی .احكام الجنائز للالبانی ج ١ ص ۴٢ ،
او همدارنګه شعيب ارنوؤط دسنن ابی داؤد په حاشية كی دشيخ البانی حكم ذكر كړی اود حديث ټول طرق ئی ډير په تفصيل سره بيان كړی اوصحيح ئی بللی دی .

9-- صحيح امام بخاری ج ١٠/ ص ١۵۶- ١۵٧ مخ روايت كړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲- سل( نرى رنځ)**

**حضرت راشد بن حبيش رضى الله عنه روايت كړى وايي:  چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل:" قَتْلُ الْمُسْلِمِ شَهَادَةٌ . قَالَ : إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِي إِذًا لَقَلِيلٌ قَتْلُ الْمُسْلِمِ شَهَادَةٌ ، وَالطَّاعُونُ شَهَادَةٌ ، وَالْمَرْأَةُ يَقْتُلُهَا وَلَدُهَا جَمْعًا شَهَادَةٌ وَالسُّلُ شَهَادَةٌ"[10] ژباړه: مسلمان چې ووژل شي شهيد دى، او د طاعون په وسيله مرګ شهادت دى،اوكومه ښځه چې دماشوم د زېږېدو په  خاطرمړه شي شهيده ده او په نري رنځ مرګ شهادت دى.**

**۳- دنس درد :**

**حضرت ابو هريره رضى الله عنه روايت كړى وايي چې :پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل:"وَمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيدٌ "[11] ژباړه: څوك چې د ګيډې (نس) په مرض مړ شو شهيد دى.**

**۴- د انسان د څنګ ناروغي:**

**دانسان د څنګ داخلي پرده پړسيږي  چې دنفس تنګي، تبه ،ټوخى  اودتشي  درد ترې پيداكيږي. جابر بن عتيك د پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه روايت كړيدى چې ده مبارك فرمايلي:" وصاحب ذات الجنب شهيد"چې وروسته به پوره بيان كړى شي.  ژباړه: د تشي (څنګ ) په مرض اخته شوى چې مړ شي شهيد دى.**

---

۲- امام احمد  په (4 / 201 - 5 / 323) او امام دارمي په (2 / 208) او امام طيالسي په (582) روايت كړى امام البانى وائى إسنادئى صحيح دى احكام الجنائز  ج ۱ ص ۳۹ ، اما م هيثمى په مجمع الزوائد ج ۱۲ص ۱۱۶ كى ليكى : امام طبرانى په معجم اوسط كى روايت كړى راويان ئى د صحيح راويان دى .

۳- صحيح امام  مسلم دحديث نمبر 1915 دى .

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 9- كومه ښځه چې په اولاد مړه شی شهیده ده:

**حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړیدی چی فرمايي: " وَالْمَرْأَةُ يَقْتُلُهَا وَلَدُهَا جَمْعَاءَ شَهَادَةٌ يجُرها ولدها بسررهِ إلى الجنةِ"[12] ژباړه: كومه ښځه چې د ماشوم د زیږیدو له امله مړه شي شهيده ده او خپل ماشوم يې د په وسیله جنت لوري ته کشوي.**

### 10- د اوبو په وسیله غرقیدل یا په اور سوځیدل: اویا د کوم شی په نړیدو باندی مرګ:

له حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روایت شوی دی وایي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمايل: " «الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ، الْمَطْعُونُ وَالْمَبْطُونُ، وَالْغَرِقُ، وَصَاحِبُ الْهَدْمِ » "13

ژباړه : شهیدان پنځه دی : چی په کوم شی ووهل بیامړشی ، دنس د درد له امله مړشی ، په اوبوکی غرق شی ، یا کوم شی پری را ونړیږی او مړشی دا ټول شهیدان دی .

حضرت جابر بن عتیك رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمايل:" الشُّهَدَاءُ سَبْعَةٌ سِوَى الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ : الْمَطْعُونُ شَهِيدٌ، وَالْغَرِقُ شَهِيدٌ، وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيدٌ، وَالْمَبْطُونُ شَهِيدٌ، وَالْحَرِقُ شَهِيدٌ، وَالَّذِي يَمُوتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيدٌ،وَالْمَرْأَةُ تَمُوتُ بِجُمْعٍ شَهِيدٌ"[14] **ژباړه: د الله جل جلاله په لارکې د وژل کیدو څخه پرته نور اووه کسان هم شهيدان دي، کوم مسلمان چې په ناحقه ووژل شي شهيد دی څوك چې په اوبو کې غرق (ډوب) شي شهيد دی څوك چې د تشي د ناروغی له امله مړ شي شهيد دی او څوك چې د ګیډې له ناروغی څخه مړشي شهيد دی.څوك چې د اور سوځیدو له امله مړ شي شهيد دی او څوك چې د كوم شي په نړیدو مړ شي شهيد دی او کومه ښځه چې د اولادزیږیدو له امله مړه شي شهیده ده.**

---

١ـ امام احمد په (4 / 201 - 5 / 323) اوامام دارمي په (2 / 208) اوامام الطيالسي په (582) روایت کړی اوامام البانی ویلی دی إسناد ئی صحیح دی .[12] احکام الجنائزج ١ ص ٣٩

٢ـ متفق علیه : صحیح البخاری 167/1(652) اوامام مسلم ج51/6. کی روایت کړی دی .

[14] - امام مالك په موطأ، په كتاب الجنائز، باب النهي عن البكاء على الميت: 234/1. اوامام نسائي، په كتاب الجنائز، باب النهي عن البكاء على الميت، نمبر 1846. امام أبو داود، په كتاب الجنائز، باب فضل من مات في الطاعون، نمبر 311. اوامام أحمد په الفتح الرباني: 39/14. امام نووي ویلی دی : دغه حدیث پرته له خلافه صحیح دی ، اګرکه امام بخاری او امام مسلم دغه حدیث ندی روایت کړی . شرح صحيح مسلم: 62/13. امام ألباني وائی : زه ددی حدسث دمتن په صحت کی شک نلرم ځکه چی شواهد ئی ډیر دی ". أحكام الجنائز، ص40.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**11- دجمعې په شپه او دهغې په ورځ مرګ:**

**عبدالله بن عمرو رضې الله عنهما د پيغمبر صلى الله عليه وسلم  څخه روايت کړېدی چې فرمايي:" ما منْ مسلمٍ يموتُ يومَ الجمعةِ أو ليلةَ الجمعةِ إلا وقاهُ اللهُ فتنةَ القبرِ".[15]ژباړه: کوم مسلمان چې د جمعې په ورځ او ياې په شپه مړشي الله جل جلا له به يې د قبر له عذابه وساتي.ساتل ديوانسان دقبر له عذابه څخه لويه نيک بختی دی انسان لپاره اويو ښه پايله بلل کيږی انسان لپاره.**

**١٢- د مرګ په وخت کې د توحيد د کليمې ويل دي :**

**امام حاکم د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روايت کړېدی او ويلي يې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم  وفرمايل: « مَنْ كَانَ آخِرُكَلاَمِهِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ  دَخَلَ الْجَنَّةَ »[16] ژباړه: څوك چې د ژوند په آخري لحظه کې د( لا اله الا الله) مبارکه کليمه ووايې جنت ته به ننوزي.نوبايد داهم واضح کړل شی چی د کليمی د ويلوسره دهغی شرطونه هم پوره کول ضروری دی اوهغه اته دی چی په لاندی ډول سره وړاندی کيږی:**

---

١ـ امام احمد بن حنبل په مسند ج ٢ ص ١٧٦کی  اوامام ترمذي په ١٠٧  ٤ نمبر روايت کړی او ويلی ئی دی : دغه حديث غريب دی اواسناد ئی متصل ندی حافظ  ابن حجر ويلی دی فتح الباری " 3 / 253 په سند کی ضعف دی ، أبو يعلى د أنس دحديث څخه روايت کړی اوسند ئی ډيرضعيف دی .نحوه و إسناده أضعف .
 ألباني په  أحكام الجنائز  (35) کی ويلی دی : حديث د طرقه ټولوطرقوته په کتلوسره :حَسَنٌ أو صحيح دی.  په مشكاة (1367) کی ئی ويلی دی : حسن دی .
٢ـ امام أبو داود په ج ٣ ص ٤٨٦ (3116)او امام حاکم په مستدرك 351/1 کی روايت کړی او صحيح ئي بللی دی اوامام ذهبي ورسره موافق دی ، او ألباني په صحيح الجامع (6479) نمبر صحيح کړی دی  .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## علم :

یعنې پدې کلیمې باندې ځان پوهول چې په هغې کې دنورو ټولو باطلو معبودانو نه انکارکول او دیو الله جل جلاله دربوبیت ، الوهیت او اسماؤ صفاتو اقرارکول او منل دی ددې شرط دلیل دقرآن کریم دغه مبارک آیت دی چې الله جل جلاله فرمائی : {فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ }. محمد/ ١٩ژباړه : پوه شه ای مخاطبه ! چې نشته په رښتیا سره دعبادت او بندګۍ ، حقدار غیر دالله جل جلاله نه او بښنه وغواړه دګناه خپلې ځان لپاره او مؤمنانوسړو اوښځو لپاره او الله جل جلاله پوه دی ستاسو په ځای داوړیدلو راوړیدلو په ورځ کې او په ځای داستقرار اوآرام په شپه کې .

## یقین :

پدې کلیمې داسې کامل یقین کول چې په هغې کې دشک او ګمان لپاره څه مجال نه وی دلیل ددې شرط د قرآن کریم داآیت دی الله جل جلاله فرمائی:{ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّه وَ رَسُولِه ثُمَّ لَمْ يَرْتابُوا وَ جاهَدُوا بِأَمْوالِهِمْ وَ أَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ }. الحجرات / ١٥ ژباړه : الله جل جلاله فرمائی یقینا مؤمنان هغه کسان دی چې ایمان راوړی وی په الله جل جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم باندې بیا شک او تردد نه وی کړی په خپل ایمان کې او جهاد یې کړی وی په خپل مال او نفس سر د الله جل جلاله په لارکې نو دغه کسان رښتینی دی . اوحدیث شریف کې راځی :۔

عن أبی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : " أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّى رَسُولُ اللهِ لاَ يَلْقَى اللَّهَ بِهِمَا

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَبْدٌ غَيْرَشَاكٍّ فِيهِمَا إِلاَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ.))_"[17] ژباړه : ابوهريرة رضی الله عنه روايت کړی د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه چی ده مبارک فرمايلی دی : هر هغه څوک چی ګواهی وکړی ددی خبری چی نشته بل حقدار دعبادت او بندګی په رښتيا سره غير د الله جل جلاله نه اوګواهی ددی خبری کوی چی زه د الله جل جلاله ليږل شوی رسول يم نونه مخ کيږی الله جل جلاله سره يوبنده پدی عقيدی پداسی حال کی چی شک نه کوی پدی عقيده کی مګرجنت ته به ننوځی .

## اخلاص :

يعنی مسلمان د الله جل جلاله عبادت او بندګی پدی قصد او نيت سره وکړی چی دمخلوق لپاره يا ددنيوی اغراضو لپاره نه وی ددی شرط دليل دقرآن کريم دغه مبارک آيت شريف دی چی الله جل جلاله فرمائی:{وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ} البينة/ 5. ژباړه : اودی خلکوته امر نه ؤ شوی مګر ددی خبری چی بندګی وکړی ديو الله جل جلاله خالص ګرځوونکی دخپل دين الله جل جلاله لپاره پداسی حال کی چی کلک ولاړوی په توحيد دالله جل جلاله باندی او مقابله کوونکی دی دشرک اومشرکينواو ودروی لمونځونه اوورکوی زکات دمالونواو دادی دين کلک اومحکم .

[17] ـ صحيح مسلم ج اول ص 57 د حديث 27 نمبر روايت کړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائی : " إِنَّ أَسْعَدَ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَالَ : لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ خَالِصًا مِنْ قِبَلِ نَفْسِه"[18] ژباړه : ډیر دښی برخی وړونکی خلک ځما له شفاعت نه هغه څوک دی چی ګواهی کړی وی ددی خبری چی نشته حقدارد بندګی په رښتیا سره غیرد الله جل جلاله نه اوداپی په اخلاص سره ویلی وی له زړه نه .**

## صدق :

**یعنی دا انسان په خپل شهادت او اقرار کی رښتینی دی او د دروغو څخه ځان ژغوری دلیل پدی شرط باندی دا آیت کریمه دی ، الله جل جلاله فرمایی:{ الم أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوا أَن يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ " عنکبوت} /1.ژباړه : الله جل جلاله ښه پوهیږی په مطلب ددی حروفو مقطعاتو ، آیا ګمان کوی خلک چی پریښودلی به شی صرف پدی خبری چی وائی دوی مونږ ایمان راوړی دی او دوی به ونه ازمایلی شی. اوحدیث شریف کی راځی : "عن معاذ بن جبل رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال:** " مَا مِنْ عَبْدٍ يَشْهَدُ أن لا إلهَ إلاَّ الله ، وَأنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ صِدْقاً مِنْ قَلْبِهِ إلاَّ حَرَّمَهُ الله عَلَى النَّار ". **[19]ژباړه : روایت کړی معاذ بن جبل رضی الله عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هغه مبارک فرمایلی دی : نشته هیڅ یوبنده دالله جل جلاله چی هغه ګواهی کوی په رښتیا سره پدی خبره چی نشته حقداردبندګی اوعبادت په رښتیا سره غیرد الله جل جلاله نه اوګواهی کوی پدی خبری چی محمد صلی الله علیه وسلم دالله جل جلاله بنده اورسول دی په رښتیا سره دخپل زړه نه مګر الله جل جلاله حرام کړی دی په هغه باندی اور دجهنم .دمبارک حدیث څخه معلومیږی چی دا کلمه باید دزړه له کومی ووایی اوپه زړه کی ورباندی دتصدیق هم وکوی که داسی نوی نو په ښکاره توګه**

---

۲ـ صحیح البخاری ج 1 ص 193 د حدیث نمبر ۹۹ دی .

۱ـ امام بخاري په کتاب العلم: باب من خص بالعلم قومًا دون قوم کراهية أن لا يفهموا.کی روایت کړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

منافقانو هم دا کلمه ویله خوفرق دمسلمان له منافق څخه دی کی دی چی مسلمان یی له زړه له کومی وایی اومنافق په ژبه وربانډی تلفظ کوی خوپه زړه کی وربانډی باور نلری.

## محبت :

یعنی د دی کلیمی سره مینه کول معناداچی دغه مبارکه دکوم شی ښودنه او تعلیم ورکوی دهغی سره مینه او محبت کول اودڅه نه چی انسان منع کوی دهغی نه ځان ژغورل ، ددی شرط دلیل دقرآن کریم نه لاندی آیت کریمه دی الله جل جلاله فرمائی : {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ} البقرة /165. ژباړه : الله جل جلاله فرمائی : ځینی دخلکو نه هغه څوک دی چی نیسی غیرالله جل جلاله نه نور همسیالی اوشریکان او مینه کوی دهغوی سره په شان دمحبت کولودالله جل جلاله سره او هغه کسان چی توحید والادی او حقیقی مؤمنان دی هغوی ډیرزیات محبت کوونکی دی دالله جل جلاله سره اوکله چی ووینی هغه کسان چی ظلم او شرک یی کړی ؤ عذاب بیا به پوه شی چی یقینا قوت او طاقت ټول یو الله جل جلاله سره دی او یقینا الله جل جلاله سخت عذاب ورکوونکی دی .ددی مبارک آیت نه معلومیږی چی دانسان محبت خپل خدای سره دهرڅه نه زیات وی چی دهغی اندازی ته دیو شی محبت هم ونه رسیږی که داسی نوی نو دده دعوا دایمان با د دروغو ایمان دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انقياد :

یعنی تسلیمیدل اوتابعداری ددی کلیمی دحقوقو لپاره اومراد دحقوقونه هغه فرض اوضروری احکام دی چی په اخلاص سره وی اوصرف د الله جل جلاله دراضی کولولپاره وی او پدی شرط باندی دلیل دا آیت کریمه دی، الله جل جلاله فرمایی : "{أَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَ أَسْلِمُوا لَهُ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لا تُنْصَرُونَ} زمر/۵۴ .ژباړه : اورجوع وکړی ای خلکو خپل معبود اورب ته اوغاړه کیږدی دهغه اوامروته او توحید ته مخکی ددی نه چی عذاب د الله جل جلاله راشی بیابه تاسوسره هیڅ قسمه نصرت او مدد کیدای نشی . اوحدیث شریف کی راځی چی : لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يكُون هَواه تَبِعاً لما جئتُ به[20]" ژباړه : پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : ایمان والا اومؤمن نشی جوړیدای یوانسان ترڅو چی خپل خواهشات تابع نکړی دهغه دین چی ما راوړی دی .

## قبول والی او منل :

یعنی ددی کلیمی لاندی چی څه احکام دی هغه منل په خپل قول اوعمل ، سیرت او صورت کی او پدی شرط باندی دلیل دا آیت کریمه دی ، الله جل جلاله دکفارو په اړه فرمایی : إِنَّهُمْ كانُوا إِذا قيلَ لَهُمْ لا إِلهَ إلا الله يستكبرون} صافات 35ژباړه : یقینا دوی هغه خلک دی کله چی به دوی دتوحید کلیمی طرف ته را بلل کیدل نو دوی به

---

[20] -قال الخطيب التبريزي في المشكاة (59-1): رواه في شرح السنة وقال النووي في "أربعينه" هذا حديث صحيح رويناه في كتاب الحجة بإسناد صحيح.وعزاه الألباني أيضا للحسن بن سفيان في "الأربعين" له (ق 56-1) والقاسم بن عساكر في أربعينه وقال: حديث غريب، قال الألباني متعقبا النووي . رحمه الله .: هذا وهم فالسند ضعيف فيه نعيم بن حماد وهو ضعيف، وأعله الحافظ ابن رجب بغير هذه العلة متعقبا على النووي تصحيحه إياه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکبر او لویي کوله . تکبر په معنا دنه منلو دحق دی نو هغوی که په ژبه ویل خو منلو ته تیار نه وو نوځکه هغوی مشرکان پاتی شول.

### الکفر بالطاغوت :

یعنی انکار کول دطاغوت دمعبودیت او تابعداری نه ، اوطاغوت هر هغه معبودته ویل کیږی چی سوا دالله جل جلاله نه دکوم شی عبادت کیږی اوهغه پری راضی او خوشحاله وی ، دلیل پدی شرط باندی دا آیت کریمه دی ، الله جل جلاله فرمایی :{لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللّه فَقَدِ اسْتَمْسَکَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ لاَ انفِصَامَ لَهَا وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ} البقرة ( ۲۵۶). ژباړه : نشته تکلیف او زور په دین کی ځکه په تحقیق سره ښکاره شوی ده سمه لاره دخرابی نه اوهرهغه څوک چی انکاروکړی دبندګی دغیر الله جل جلاله نه اوتصدیق وکړی دتوحید دالله جل جلاله په تحقیق سره دی انسان کلکی منګولی ولګولی په هغه رسی دتوحید چی هغه نه شلیدونکی ده دهمیش لپاره او الله جل جلاله ډیر اوریدونکی او ډیر پوه دی دمخلوقاتوپه حال .

### دښی پایلی ته هڅونه د مبارکو آیتونوپه رڼاکی:

۱- {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ}آل عمران/ 102 ژباړه: ای مومنانو! له الله جل جلا له نه داسې ووېرېږئ لکه څنګه چې له هغه نه د وېرېدو حق دی، تاسې ته دې مرګ رانشي مګر پداسې حا ل کې چې مسلمانان اوسئ .داآیت صریح اوښکاره امرکوی په دی چی په ښه حالت اسلام کی ددنیا څخه ولاړشی اوداسلام په حالت کی مړکیدل ښه پایله دی انسان لپاره .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-{وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ. }حجرات / ۹۹ ژباړه: او ترهغه وروستي ساعت پورې د خپل رب بندګي کوه چې دهغه راتګ يقيني دی يعنې: ( ترمرګ پورې ) . دی ايت کی خدای جل جلاله ترمرګه پاتی کيدل په عبادت اوخدای عبادت ته دوام ورکولو باندی امرکوی اوآخرعمردانسان چی په عبادت وی دا ددی انسان په ښه پايله دلالت کوی. نو د الله جل جلاله څخه د وېرې او د هغه د عبادت کولو فرمان او امر ترمرګه پورې دوام لري ترڅو چې د انسان د ښې پايلې ( نتيجې ) سبب وګرځي داحساس ترين پړاو پايله دانسان ده ، پيغمبر صلی الله عليه وسلم په څرګند ډول را ښوولي دي چې ځينې خلک ټول عمرد الله جل جلاله په بندګۍ کې هڅه او هاند کوي او دګناه څخه ځان ژغوري مګرکله چې مرګ ته نژدې شي داسې بدکارونه او ګناهونه وکړي چې د بدې پايلې ( خاتمې ) سبب يې شي پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:"وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِفَيَدْخُلُ النَّارَ."[21] ژباړه : بې له شکه يو انسان د جنتيانو عمل کوي تردې چې ددغه سړي او جنت ترمنځ تقريباً د يوه ګز په اندازه مسافه پاتې شي نو د الله جل جلاله لخوا ليکل شوی تقديروړاندې شي او ددوزخيانو کارونه وکړي ( ګناه وکړي ) او ددوزخ اور ته ننوزي، د ا حديث شريف بخاري روايت کړيدی .دحضرت سهل بن سعد ساعدي رضی الله عنه نه چی :

عَنْ سَهْلٍ أَنَّ رَجُلاً مِنْ أَعْظَمِ الْمُسْلِمِينَ غَنَاءً عَنِ الْمُسْلِمِينَ فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا مَعَ النَّبِيِّ – صلى الله عليه وسلم – فَنَظَرَ النَّبِيُّ – صلى الله عليه وسلم – فَقَالَ: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى الرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا». فَاتَّبَعَهُ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ، وَهْوَ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ مِنْ أَشَدِّ النَّاسِ عَلَى الْمُشْرِكِينَ، حَتَّى جُرِحَ فَاسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ، فَجَعَلَ ذُبَابَةَ سَيْفِهِ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ حَتَّى خَرَجَ مِنْ بَيْنِ كَتِفَيْهِ، فَأَقْبَلَ الرَّجُلُ إِلَى النَّبِيِّ – صلى الله عليه وسلم – مُسْرِعًا فَقَالَ: أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللهِ. فَقَالَ «وَمَا ذَاكَ؟». قَالَ: قُلْتَ لِفُلاَنٍ: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَلْيَنْظُرْ إِلَيْهِ». وَكَانَ مِنْ أَعْظَمِنَا غَنَاءً عَنِ الْمُسْلِمِينَ، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ لاَ يَمُوتُ عَلَى ذَلِكَ فَلَمَّا جُرِحَ اسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ فَقَتَلَ نَفْسَهُ. فَقَالَ النَّبِيُّ – صلى الله عليه وسلم – عِنْدَ ذَلِكَ: «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ، وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ » وفي بعض الروايات زيادة (وَإِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ"[22] ژباړه :

دحضرت سهل رضی الله عنه څخه روايت دی چی يو ډيراوچت شخص د مسلمانانو په منځ کی وه او هم دمسلمانانو ډير جنګی شخصيت وه په يوه غزا کې د پيغمبرصلی الله عليه وسلم سره يو ځای وه نو پيغمبرصلی الله عليه وسلم ورته وکتل او وئی فرمايل : که څوک غواړی اوخوښوی چی داسی يوچاته وګوری چی ددوزخ داهل څخه وی نودغه کس ته د وګوری ، اودغه شخص ډيراوچت شخص د مسلمانانو او ډيرجنګی وه ، نويوکس ددی ډلی نه ورپسی شو ، دی دمشرکانو په مقابل کی په ډيره سخته جګړه بوخت وه تردی چی ټپي شو او غوښتل يې چې زر مړشي ، د تورې څوکه يې خپلې سينې ته برابره کړه او بيا يې زورپرې وکړ تردی چی ترشايی ووته ، نوهغه سړی په ډيره تيزی سره پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته راغی او وئی ويل : زه په تحقيق سره پردی ګواهی ورکوم چی ته دالله جل جلاله رسول يی پيغمبرصلی الله

---

21 - ابن حجر: فتح الباري شرح صحيح البخاري 11/ ۴۹۹ مخ. 2898 – مسلم: 112 –

22- ابن حجر- فتح الباري شرح صحيح البخاري ج 11/ ۳۳۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليه وسلم وفرمايل: څه دى ؟ صحابى وائى : مگر هغه صحابي چې تاسې ياداوه چې دوزخي دى، اوزموږ په منځ کې ديو ځانګړى مقام لرونکى وه اوهم پدى پوه شوم چى داسى به نه مرکيږى خوکله چې سخت تپي شو، صبر يې ونشوکړاى اود زرمرينې په لته کې شو او خپله توره يې راواخيسته او خپل ځان يې وواژه، ، بيا پيغمبرصلى الله عليه وسلم په دې ترڅ کې وفرمايل: بيشکه يو سړى ډير ښه عمل کوى چې خلکو ته په ښکاره ډول د جنتيانو عمل ښکاري او هغه دوزخي وي او بل داسې سړى وي چې دهغه عمل د خلکو په وړاندې ددوزخيانو عمل ښکاريږي او هغه جنتي وي ) په ځينې روايتونو کې دا زياتوالى هم شته چې وايي: په يقيني توګه عملونه ترپايلې ( خاتمې ) پورې تړلي دي. الله جل جلاله خپل مومن بنده ګان داسې ښودلي چې مومنان دالله جل جلاله څخه ډيروېريدونکى او د ښه او غوره عمل کوونکي دي الله جل جلاله خپل مومن بنده ګان داسې ښودلي چې مومنان دالله جل جلاله څخه ډيروېريدونکى او د ښه او غوره عمل کوونکي دي او بيا يې فرمايلي دي: الَّذِينَ هُمْ مِنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ (57) وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ (58) وَالَّذِينَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ (59) وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ (60) أُولَئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ (61}سورة مؤمنون ژباړه: بيشکه هغه کسان چې دوى د خپل رب د عذاب څخه وېريدونکي دي، او دا مومنان هغه کسان دي چې دوى په اياتونو د رب خپل ايمان راوړى، او هغه کسان دي چې له خپل رب سره بل هيڅ شى نه شريکوي، او هغه کسان دي چې ورکوي له زکاتونو او خيراتونو څخه حال داچې زړونه ددوى وېريدونکي دي له نه قبليدو څخه ځکه چې بيشکه دوى خپل رب ته ورتلونکي دي، هغه کسان دي چې ډېر تلوار کوي په نيکيو کښې او دوى هغو ( نيکيو) ته ړومبى کيدونکي دي ( له نورو خلکونه ) .او دغه د صحابه وو رضى الله عنهم د ژوند حالت وه امام احمد رحمةالله عليه د حضرت ابوبکرصديق رضى الله عنه څخه روايت کړيدى چې فرمايلي يې دي :"وددت أنى شَعرة في جنب عبد مؤمن )) وكان يأخذ رضى الله عنه بلسانه ويقول: ( هَذَا الَّذِي أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ)"[23].

ژباړه: زه به پردې خوشحاله وم چې د يو مؤمن بنده په اړخ کې يو ويښته واى، خپله ژبه به يې ونيوله او ويل به يې: دا هغه څيزدى چې زه يې هلاکت ته رسولى يم.

## دوهم مبحث: دښى پايلى سببونه :

### دالله جل جلاله إطاعت :

ترټولو او چت سبب دښې پايلى دادى چې دالله جل جلاله په طاعت او تقوا سره ځان سنبال کړى چې اساس او بنسټ ئي دالله جل جلاله توحيد دى ، دمحرماتو نه ځان وساتى ، توبى ته منډه وکړى دلوى او وړوکى شرک څخه ځان

١ـ امام احمد کتاب الزهد ص ١٠٩ و کتاب الزهد امام عبدالله بن مبارک ص١٢٥/ جامع الحديث مسند ابى بکر الصديق **27447**– (أبو يعلى، والبيهقى فى شعب الإيمان. قال ابن كثير: إسناده جيد) **[كنز العمال 8890]**

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژغوری کوم چی دمسلمان ټول نیک عملونه پری باطلیږی اواجراو ګټلی ثوابونه ئی له منځه وړی .ځنی وختوکی یو انسان ځان ته یی پام نوی داسی کارترسره کوی چی ددی ټول عمل محوه کوی دی به دثواب په لټه کی وی حال داچی هغه ټول دده دیو عمل په ذریعه له مینځه تللی وی لکه شرک چی دانسان عمل له مینځه وړی یا حسد چی دانسان عمل خوری لکه چی زنګ په وسپنه ولګی او هغه له مینځه ختم کړی ، مهم دادی چی همیشه اوتل دخدای جل جلاله په اطاعت کی وسیږو ترسووکولای شو چی خپل کړی عملونه خوندی کړو اوالله جل جلاله ددی اعمالو ثواب موږ ته راپه برخه کړی.

## * دعا کول :

بل داچی انسان دالله جل جلاله څخه په دعاکولوکی ډیر اصرارولری چی : یا الله جل جلاله په ایمان اوتقوی سره مرګ راکړه .لکه څنګه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم به تل دښی پایلی دعا ګانی غوښتل حال داچی درسول الله صلی الله علیه وسلم ټول تیرشوی اوراتلونکی ګناهونه یی الله جل جلاله ورته معاف کړی وو، دا تعلیم اوښودنه ده امت ته چی هر امتی باید په دغه لاره خپل تګلاره برابره کړی.

## * إصلاح دباطن سره دظاهره:

بل داچی انسان باید ډیرکوښښ وکړی او ټول توان او طاقت وکاروی ترڅو خپل باطن او ظاهر اصلاح کړی او نیت او قصد ئی دواړه ددغه هدف او موخی لپاره استعمال کړی ، داد الله جل جلاله سنت او ثابته لارده چی څوک حق غواړی هغی ته ئی الله جل جلاله درسیدو توفیق ورکوی په هغی دثابت پاتی کیدو او په هغی دمرګ لارورته برابروی . که ښکاره کی یو انسان ښه مسلمان ځان وروپیژنی خلکو باندی اما په باطن کی دی بدکاروی نوداخطرناکه مرحله دانسان دی ځکه داسی انسان سره هیڅ غم اوفکر نوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## * استقامت :

یعنی په خپل اقرارپی چی کړای دی ثابت پاتی کیدل اوپه هره زمانه کی چی له فتنوسره مخامخ کیږی په خپل ایمان اواقرار ثابت پاتی شی. په دی اړه الله جل جلاله فرمایی{نَّ الَّذِینَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلاّ تَخَافُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ}سورة (فصلت /۳۰

ژباړه : بیشکه هغه کسان چی ئی ویلی دی رب زموږ الله جل جلاله دی بیا محکم ولاړوی په دی خبری باندی راکوزی به په دوی باندی ملائکی، چی مه ویریږی او مه خفه کیږی اوخوشحاله اوسی په هغه جنت چی وی تاسی وعده به ئی درسره کولای شوه .نو زیری ورکول له ملائکو له خوا یو مسلمان ته دا دده ښه پایلی ښه ده چی الله جل جلاله ورباندی په قهر ندی٫که وای نو ولی به فرشتو دی ته دجنت زیری وکوله بلکه دا انسان به په ډیره خطرناکه حالت کی قبض کاوه.

## *- په الله جل جلاله باندی ښه گمان کول:

په دی اړه دپیغمبرصلی الله علیه وسلم حدیث دی "عن أبي هريرة رضي الله أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : " يقول الله تعالى: أَنَا عِنْدَ حَسَنِ ظَنِّ عَبْدِي بِي }[24] ژباړه : دحضرت أبوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : الله جل جلاله فرمایی : زه دخپل بنده دښه گومان سره یم .تردی چی دیو مسلمان په دعاکی هم په خدای جل جلاله باندی ښه گمان کول ددعا دقبولیت درجه اخلی، ځکه دعا وکړی اوگمان یی دا وی چی ځما دعا قبلیږی نو خدای جل جلاله له ده له گمان سره سم کارکوی ، ددی وجی نه ددعا آداب دادی چی دزړه دیقین نه به دعا غواړی اودغافل زړه څخه دعا نه قبلیږی

---

۱- متفق علیه : امام بخاري (13/ 328 – الفتح)، اوامام مسلم (8/ 62)، د حدیث نمبر2675

(c) ketabton.com: The Digital Library

***- تقوی او دالله جل جلاله څخه په هرحالت کی ویریدل :**

**قال تعالی: {مَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا} لطلاق آیة / 4 ژباړه : اوهغه څوک چی ویریږی دالله جل جلاله نه نووبه گرځوی هغه لره له کاره دهغه نه آسانی .**

## *صدق او ریښتینولی :

**په دی اړه الله جل جلاله فرمایی:{ ياأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِين} (التوبة ) آیة ( ۱۱۹ )**

**ژباړه : ای هغوکسانو چی ایمان موراوړی دی وویریږی د الله جل جلاله نه اوشی دریښتینانوسره . پدی آیت کی خدای جل جلاله همیشه پاتی کیدل یی سره د ریشتنی خلق امر کړی دی او دا حسن خاتمه یا نیکه پایلی د انسان لپاره لوی عامل دی ځکه چی انسان دخپلو ملگرو له لاسه یا بی راهه کیږی اویا هم سمی لاری ته گرځی.**

## توبه کول الله جل جلاله ته:

**توبی سره دانسان تېول کړی ناکاره اونارو‌ا عملونه محوه کیږی اگرکه دبحر اودریا دزگ هومره وی. اوتوبه دانسان دکامیابی یولامل د انسان له برباوو څخه دی. خدای جل جلاله په دی اړه فرمایی:{ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} سوره النور آیت / ۳۱ .ژباړه : اوتوبه وباسی الله جل جلاله ته تېول ای مومنانوښائی چی تاسو به خلاص شی له عذابه .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دالله جل جلاله په طاعت اوعبادت همیشوالی اودوام :

دالله جل جلاله عبادت په همیشه توګه اداکول په دی معنا چی هیڅ کله دخدای له عبادت څخه غفلت نکوی اودینه نګوری چی کم عبادت دی اوکه زیات ولی په همیشوالی سره یی اداکوی دا دانسان دنیکی پایلی لوی سبب دی. داچی په نیک عمل باندی همیشوالی کول مهم دی دپیغمبرصلی الله علیه وسلم له مبارک حدیث څخه معلومیږی:عن أبی سلمه عن عَائِشَةَ رضی الله عنهاأنها قالت: سئل النی النبي صلی الله علیه و سلم : " أَيُّ الأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ؟ قَالَ: «أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ ». "[25] ژباړه : حضرت ابی سلمه رضی الله عنه د عائشی رضی الله عنها څخه روایت کوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه کوم عمل الله ج ته محبوب دی پیغمبرصل الله علیه وسلم وویل همیشه عمل کول اګرکه کم وی.

## دمرګ یادول اولږ امید لرل :

دمرګ یادونه خو هره شیبه کی دانسان لپاره پکاردی تردی چی ددنیا له محبت سره دډیروالی له امله ځان هلاک نکړی اورسره امید اوهیله لرل دخدای جل جلاله درحمت څخه ایمان دویری اوامید ترمینځ دی. نودغه یادول دمرګ اوهیله دخدای دمغفرت اورحم دواړه دانسان دښی پایلی سبب ګرځی.

هروخت د مرګ یادونه ددې سبب کیږي چې دنیا او دهغې نعمتونه پرېږدي او د آخرت لپاره تشویق او ترغیب شي دابه يې دې ته وهڅوي چې د نیك عمل په کولو کې کوښښ وکړي او دمنځه تلونکې دنیا ناروا غوښتنو ته تکیه ونکړي.

---

١ـ صحیح البخاری کتاب الرقاق باب القصد والمداومه علی العمل رقم [انظر: 1970 – مسلم: 782، 783 – فتح: 11/ 294][25] ٦١٠٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

### دبدی پایلی دسببونودترسره کولوځخه ځان ساتل :

هر هغه شیان چی دبدی پایلی سبب وی له هغوځخه ډېره اوپرهیز کول لکه په ګناهونو باندی اصرار او ټینګار کول ددنیا سره مینه لرل اویاهم په توبی کولو کی وروسته والی په خپل ګناه باندی نه پښیمانه کیدل اوبرسیره پردی په ګناهونو باندی فخرکول لکه چی دادځنی بدبختو انسانانو عمل اوتګلاره دی. داسی نورشیان چی دشریعت له لاری معلومیږی چی ګناه اومعصیت دی له هغوڅخه زان ژغورل دبنی پایلی سبب ګرځی انسان لپاره.

### په ښکاره او پټه باندې د الله جل جلا له څخه ویرېدل :

او په هغه څه باندې منګولې لرول چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د الله جل جلا له له لوري مورږ ته راوړی دی همدا دکامیابی او خلاصون یوازینی لاره ده الله جل جلا له فرمایلي دي: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} د آل عمران سورة102 آية .ژباړه: ای هغوکسانو چې ایمان موراوړی دی ( ای مومنانو)ووړیږی له الله جل جلا له نه په حق ویرېدلو سره اومه مری مګرپه داسې حال کې چې تاسې مسلمانان ( موحدان) یاست. او باید بنده د ګناهونو څخه ډېر کلک ووېرېږي ځکه لوی ګناهونه انسان هلاکوي د ټینګار او دوام په صورت سره واړه ګناهونه غټ ګرځي اوکله چې واړه ګناهونه زیات شي او په څنګ کې یې توبه او له الله جل جلا له څخه بښنه نه وي نو دا په زړه باندې راچاپیره او دیوه داغ په بڼه واقع شي ، عن سهل بن سعدعن النبی صلی الله علیه وسلم : إِيَّاكُمْ وَمُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ فَإِنَّمَا مَثَل مُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ كمثل قوم نزلوا بطن واد فجاء ذا بعود وجاءَ ذَا بِعُودٍ حَتَّى حَمَلُوا مَا أَنْضَجُوا بِهِ خُبْزَهُمْ وإِنَّ مُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ مَتَى يُؤْخَذْ بِهَا صاحبها تهلكه .[26]

---

۱ـ مسند احمد بن حنبل ج 5 ص 231 امام البانی ویلی دی : (صحیح) دی ، انظر حدیث نمبر: 2686 په صحیح الجامع کی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: د ګناهونو د لړ ګنلو څخه تاسو وېروم او باید په کم نظر ورته ونه ګوری او بابیزه یې ونه شمیری ځکه ددې ساری

داسې دی لکه یو ټولی خلك چې یو خوړ ته کوزشی هریویولرګی راوړی اوپه پای کی تری لوی انبارجوړشی اوپه آسانی سره

خپله ډوډی پری پخه کړی په همداډول وړوګناهونوته بایدپه کمه سترګه ونه کتل شی ځکه که دکوونکی سره پری حساب

وکړی شی نوددی په وسیله به هلاک شی.

## همیشه الله جل جلا له یادول:

چاچې هروخت الله جل جلا له یاد کړپه همدې یې خپل عمل پای ته ورساوه او د ژوند په وروستیو شیبوکې یې د ((لا اله

الا الله)) مبارکه کلیمه وویله د پیغمبرصلی الله علیه وسلم زیری یې په برخه شو چې فرمايي :« مَنْ كَانَ آخِرُكَلاَمِهِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ

اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ»[27]

ژباړه: د چاچې د ژوند اخری شیبی د (لا اله الا الله ) مبارکه کلیمه وی جنت ته به داخل شي. معاذ رضی الله عنه روایت

کړی هغه وویل له پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه دغوره عملونو په هکله پوښتنه وشوه پیغمبرصلی الله علیه وسلم

وفرمایل: " أحبُّ الأعْمالِ إِلَى الله أَن تَمُوتَ ولِسانُكَ رطب من ذكر الله ."[28] ژباړه : الله جل جلاله ته ترهرڅه غوره عمل

دادی چی ته په داسی حالت کی مړشی چی ژبه دی لنده وی په ذکرد‌الله جل جلاله .

## د قبرونو زیارت کول له عبرت لپاره :

کله چی انسان دا ژور او تورتم کورونه ویني او د مړو دغه پایلې ( خاتمې ) ته ځیرشي چې په تنګ قبرکې یې کېښودي او

دپاسه تیږې او خښتې پرې برابرې کړي او ښه ډېره خاوره پرې واچوي او بیا ژوندي خلك بیرته راوګرځي د مال په وېشلو یې

---

٢- رواه أبو داود (1616) وأحمد 5/ 233. والحاكم 1/ 351 وقال: هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي، عن معاذ بن جبل - رضي الله عنه -. والحديث حسنه الألباني في "الإرواء" (687).

٣- امام البانی وائی : حسن دی ، حدیث نمبر: 165 په صحیح الجامع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیل وکړي او خاص څیزونه یې هم وویشي او ښځه یې په نکاح کړي څه وخت وروسته یې بالکل هیر کړي سره ددې چې په ژوند کې ټول واك او اختیارددده سره وه. امربه یې منل کیدو او د ویلو به یې چا مخالفت او نافرماني نه کوله، نو کله چې یو مسلمان هدیرې ته ورشي او پدې کې فکروکړي نو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدې مبارك ارشاد به پوه شي او حکمت به یې ورته څرګند شي چې فرمایي:

"فَزُورُوا الْقُبُورَ؛ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ الْمَوْتَ. ".[29] ژباړه: زیارتونو ته ورشی ځکه دا انسان ته مرګ ور په یادوي.

## دمړي پرېمنځل اوپه جنازه کې ئې ګډون کول :

کله چې مړی مینځی او په جنازو کې یې ګډون کوئ، نو د لرګي په تخته هرې خواته د مړي را اړول دا پخپله لوی پند او نصیحت دی، ځکه که چیرې ژوندی وی نو د خپل توان په وسیله به یې هیچاته دا اجازه نه وه ورکړې چې دی بربنډکړي اوپه تخته یې واچوي یا ددې جرات وکړي او دده له اجازې پرته به څوك ور نږدې شوی هم نه وه. ښایي ډېر قوي او د لوی هیبت څښتن به و مګر د مرګ په وسیله داسې یو غلی او بې حرکته جسم ترې جوړ شو چې مینځونکي یې پخپله خوښه هر لوري ته اړوي او وینځي یې.کله به چې مکحول د مشقي رحمةالله علیه کومه جنازه ولیدله ویل به یې: راځی چې ځو، موږ روان یودا څومره لوي پند او نصیحت دی، او څومره لوی غفلت او بې پروایي ده، لومړنی شخص مړوي قبر ته یې بیایي او وروستنی ناپوه او بې عقل ژوندی ورځني هیڅ پند او نصیحت نه اخلي.حضرت عثمان رضی الله عنه به چې په کومه جنازه کې ګډون وکړ او په قبر به ودرید ډېر به یې ژړل، یو کس ورته وویل: کله چې جنت او دوزخ یاد شي ته نه ژاړې او چې په قبر ودرېږې بیا ژاړې ؟ ده مبارك وفرمایل چې ما د پیغمر صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې ویل به یې: " إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ

١ـ صحیح مسلم دحدیث نمبر ۹۷۴. د پیغمبرصلی الله علیه وسلم قول : اللهم اغفر لاهل بقیع الغرقد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مَنَازِلِ الآخِرَةِ ، فَإِنْ نَجَا مِنْهُ ، فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ ، فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ }[30]ژباړه: د آخرت د منزلونو څخه لومړی منزل قبر دی ځوك چې ددې له عذاب څخه وژغورل شي بيا وروستني منزلونه ډېر آسانه دي ، او ځوك چې ددې څخه ونه ژغورل شي او په کې ګير شي بيا راتلونکي منزلونه ډېر سخت دي.

**نيکانو ته ورتلل او پوښتنه يې کول:**

دنيکانو پوښتنه زړه بيداروي ، همت پيدا کوي، اراده او قصد ټينګوي، ځکه چې زيارت کوونکي ( پوښتونکي) خلك نيك او متقي کسان ويني چې د الله جل جلا له په بندګۍ او عبادت کې هڅه او هاند کوي يو له بل څخه مخکې کيږي او مسابقه کوي، مقصد يې يوازې د الله جل جلا له رضا، او د جنت ګټل او لاس ته راوړل وي،

او په نفسياتي غوښتنو کې يې له ډوبيدلو څخه ځانونه ګوښه کړي او مخونه يې ترې ګرځولي دي او په دنيايي کارونو ځانونه ډېرنه مصروفوي ځکه چې دا پدې نيکه او لويه لاره باندې د تللو مخنيوی کوي. الله جل جلا له خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته لارښوونه کړېده چې ددې خلکو سره يو ځای پاتې شي { وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا} د کهف سورة 28 آيت .

ژباړه: او بند ( ټينګ ) کړه نفس خپل له هغو کسانو سره چې بولی (عبادت کوی) د رب خپل په سبا (د ورځې په لومړنی برخه کې) او بيګاه (د ورځې په وروستی برخه کې يعنی تل ) غواړي دوی ذات ( رضاء) د الله.

1- مسند احمد بن حنبل ج ۱ ص ۶۳ سنن ترمذی دحديث نمبر ۲۳۰. امام الباني ويلی دی (حسن) دی د حديث نمبر: **1684** په صحيح الجامع کی روايت کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن بصري رحمةالله علیه ته چا وویل ای ابو سعیده: موږ ته لاروښایه ایا دهغو خلکو سره کښېنو چې موږ ترديې پورې وېروي چې نږدې زړونه مو له وېرې څخه وخيژي، حسن بصري ورته وويل: که چیرې دداسې خلکو سره کښېنې چې تا وېروي ترڅو چې ډاډ( دزړه آرام) او اطمئنان درته ورسیږي ډېرغوره دی د هغو کسانو له ملګرتیا څخه چې تاته اطمئنان درکوي ترڅو چې د ډار او وېرې سره مخامخ شې.

## دوهم فصل بده پایله اودهغه نښې

بده پایله داده چې یوانسان پداسی حالت کی مړشی چی دالله جل جلاله څخه ئی مخ ګرځولی وی ، دالله جل جلاله احکام ئی په ځان نه وی منلی ، خپلو ګناهونوته ئی دوام ورکړی وی نو بی له شکه دغه انجام ډیربد او دتشویش وړ دی ، چی نیکان خلک ډیرزیات تری ویریږی او الله جل جلاله ته زیاتی دعاګانی او تضرع کوی ترڅو د داسی انجام څخه بچ شی .دمرګ په وخت کی په ځینو خلکو داسی نښی ظاهریږی چی په بدی پایلی دلالت کوی الله جل جلاله مودتری وساتی ، د مثال په ډول لکه د شهادت دکلیمی ویلو څخه مخ ګرځول . یا دمرګ په وخت کی ځینی بد او محرم الفاظ ویل دلته باید ځینی مثالونه دوضاحت لپاره وړاندی شی اوهغه داچی : یوکس ته دمرګ په وخت کی وویل شول چی لااله الاالله کلیمه ووایه هغه شخص وویل چی ماته به څه ګټه ورسوی ځکه ما هیڅ لمونځ ندی کړی .همدارنګه امام ابن رجب رحمه الله په خپل کتاب جامع العلوم والحکم کی دامام عبدالعزیزبن ابی رواد رحمه الله له قوله  لیکی : هغه وایی : زه یوکس ته راغلم چی دمرګ په بستر پروت وه د لااله الاالله کلیمی تلقین ئی ورکاوه هغه شخص وویل : هغه په دغو ویلو کافر دی او په همدی حالت مړشو .اوهمدارنګه وایی چی مائی په هکله پوښتنه وکړه راته وویل شوه چی هغه شخص به شراب څښل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالعزیزرحمه الله به ویل : دگناهونوڅخه وویریږی ځکه داهغه څه دی چی زه ئی غورځولی یم . بده پایله دوه مرتبې لری

ءالله جل جلاله مود تری وساتی. یوداچی دروح دقبض کیدو په وخت کی په زړه باندی یوحالت راشی چی دا دشک ، انکارله

سببه راځی نو روح په همدی حالت کی قبض کیږی او دا دده او الله جل جلاله ترمنځ دپردی په ډول واقع کیږی او دغه

حالت دبنده دائمی لری والی دالله جل جلاله درحمت څخه اود همیشه نی عذاب لامل گرځی .دوهمه مرتبه دبدی پایلی

تراولنی څخه لږ کمه ده اوهغه داچی دمرگ په وخت کی دانسان په زړه باندی د دنیائی کارونویا کوم ناروا غوښتنی څخه

کوم څه وربانِدی غالبیږی او داشی ئی په زړه کی شکل اخلی او انسان په همدی حالت د دنیا څخه رحلت کوی ، که دغه

شخص سودی کارونه کوی په همدی سره مری ، اوکه رشوت اخلی په همداسی حالت مړکیږی ،

که مخدره توکی کاروی په همداسی حالت سره مړکیږی ، اوکه په خلکو باندی ظلم کوی په همداسی حالت کی به مړکیږی

، او که ناروا لوڅو عکسونوته گوری په همداسی حالت کی مړکیږی اوداسی نورگناهونه ...... یعنی په هغه شکل به

مړکیږی چی کومه گناه ئی په دنیاکی خوښوه ، دهمدی گناهونوعذاب به ورته رسیږی چی اصل توحید ورسره وی .پدی

سره معلومیږی چی دبدی پایلی لاملونه ځینی په تولیز ډول ذکرشول باید ځان تری وساتل شی اودزیات خطرناک څخه پیل

بیاهمداسی شکته خواته وراندی کیږی : چی ترټولو اوچت اوډیر خطرناک سبب ئی دعقیدی فساد دی که دچا عقیده

خرابه اوفاسده شی نو باید دالله جل جلاله څخه مرسته او په دین باندی دثابت پاتی کیدو دعا وغواړی ځکه چی دچا

عقیده سمه نه وی دهغه شخص هیڅ عمل دقبول وړندی که هرڅو یو څوک کوښښ وکړی ځکه چی دعمل دقبلیدو

لپاره دوه اساسی شرطونه دی یو:۱- دشرعیت سره مطابقت.۲- دپیغمبر صلی الله علیه وسلم متابعت.نوکه یوشرط هم

موجود نشی نودانسان عمل نه قبلیږی .ئی دعمل له لوری ککړوی ، دگناهونوپه کولوکی جرأت ولری اودکوم فکراوسوچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته ئی په کولو اقدام کوی ، ښائی دغه شخص پدی حالت اخته چی مرگ پری راشی او دتوبی پرته د دنیا څخه لاړشی .نو عاقل انسان ته ضروردی چی ډیر زیات دغه ټکی ته متوجه شی ترڅو ئی زړه دهغه محرم او ناروا څه نه را بیل کړی چی ورپوری تړلی وی ، او خپل زړه ، ژبه اواندامونه دالله جل جلاله طاعت او ذکر باندی مشغول او مصروف وساتی او په هر ځای اوهر وخت کی باید دالله جل جلاله دعبادت څخه لری نشی ، نودهمدی ښی پایلی دترلاسه کولو په خاطر ددی حساسی لحظی نه په ګټی پورته کولو هڅه وکړی چی د دائمی شقاوت او بدبختی څخه وژغورل شی .

## پخواني نیکان به د بدی پایلې (خاتمې) څخه ډېروېرېدل:

سهل تستری رحمةالله علیه وايي: د بدې پايلې څخه د صديقينو ( ريښتينو مسلمانانو) وېره په هر خوځښت او حرکت کې وي او الله جل جلا له ددوئ په هکله فرمايلي دي:{ وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَة"زړونه يې د الله جل جلا له له عذابه وېرېدونکي وي.

او بايد په هره لحظه او وخت کې د بنده سره دبدې پايلې (خاتمې) سره د مخ کيدلو وېره وي ځکه چې وېره د عمل او کار لامل کيږي بيشکه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : مَنْ خَافَ أَدْلَجَ ، وَمَنْ أَدْلَجَ بَلَغَ الْمَنْزِلَ أَلاَ إِنَّ سِلْعَةَ اللهِ غَالِيَةٌ أَلاَ إِنَّ سِلْعَةَ اللهِ الْجَنَّةُ"[31]ژباړه: څوك چې ددښمن د حملې او يرغل څخه وېرېږي نو دشپې خپل ځان محفوظ ځای ته رسوي او چاچې دا کاروکړ خپل هدف ته ورسيد، پدې خبر اوسئ چې د الله جل جلا له توښه او متاع د جنت نعمتونه دي، ډېر اوچت او د قدر وړدي او پدې خبردار اوسی؟ چې دجنت قيمت نېك عملونه دي:

امام طيبي رحمةالله عليه وايي: دا مثال د آخرت تلونکي ته دی چې شيطان يې په لاره ولاړدی او نفس ، دروغجنې هيلې يې مرستندويه دي څوك چې بيداروي او نيت يې په عمل کې خالص وي د شيطان له چل څخه به په امن وي)).( ژباړن).مګر

---

١ـ صحيح مسلم كتاب الجنة حديث نمبر [31]2877

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې انسان مرګ ته نژدې شي نو دا مناسبه او غوره خبره ده چې باید دهیلې او امید لوري یې غالب شي او الله جل جلا له ته د ورتلو شوق او رغبت یې زیات شي په یقیني توګه هغه څوك چې الله جل جلا له ته د ورتلو شوق او رغبت لري الله جل جلا له هم دهغه ورتلل خوښوي پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « لاَ يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلاَّ وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللَّهِ عَزَّوَجَلَّ »[32].امام خطابی وایی: دحسن ظن څخه مطلب نیک عمل دی . ژباړه: ستاسو څخه دې هیڅوك نه مړکیږي مګرپداسې حال کې دې مړشي چې په الله جل جلا له باندې د رحمت او مغفرت کولو هیله او نیك ګمان ولري.

دېرو جاهلو او ناپوهو مسلمانانو د الله جل جلا له په زیات رحمت او بښنې تکیه کړی او په زیاتو ګناهونو کې ننوتلی دبدیو څخه نه منع کیږی او د کوم وخت څخه چې د الله جل جلا له په مغفرت ،عفوی او دېر رحمت پوه شوي دي دا ددې لوی لامل شوئ چې نور یې هم دګناهونو په دوام ځانونه هلاکت ته رسولی ، دا دېره څرګنده غلطی او لویه خطا ده او هغه بې ځایه استدلال دی چې انسان د هلاکت کندې ته رسوي الله جل جلا له بښونکی او مهربان ذات دی ،

ولی همدا رنګه سخت عذاب ورکوونکی هم دی لکه څنګه یې چې دخپل سپیڅلي کتاب قران کریم په دېرو ځایونو کې په څرګندو ټکو بیان کړیدی او فرمایي: {نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ (49) وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ }.د الحجر سورة 49_ 50 آیاتونه .

ژباړه: خبر کړه ( ای محمده ) بندګان زما (پدې) چې بیشکه زه همدا زه ښه بښونکی ( د ګناهونو) اود دېر رحم والا یم ( د اجر او ثواب په انعام سره). ( او بل پدې) چې بیشکه عذاب زما (هم) همدغه عذاب دېر درد ناك دی.په بل ځای کې الله جل جلا له فرمایي : {حم (1) تَنْزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ (2) غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيدِ الْعِقَابِ} د غافر سورت (3-1) آیاتونه.

---

(2) مسند احمد ، الاتحاف الجلی نمبر ۱۴۸۷ اومسلم کتاب الجنه نمبر ۲۸۷۷ او ابوداؤد الجنائزنمبر ۳۱۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: نازلیدل ددې کتاب ( قرآن) له (جانبه) د الله جل جلا له دی چې (دې) ښه غالب قوي ( په انفاذ د احکامو) ښه عالـم دی (پر هر څیز) ښـونکی د ګناهـونو دی ( ګناه کونکوته)اوقبلوونکی د توبې دی ( توبه کوونکو لره).معروف کرخي رحمةالله علیه وایي:د هغه ذات څخه درحمت هیله او امید چې ته یې نافرماني کوې عار او حماقت دی.

ځینوعلمانو ویلي دي : چاچې په دنیا کې ددری درهمو( روپیو) په غلا سره یوغـړی درځینې پرېکړددې خبرې څخه هم مه بې پرواکیږه چې په آخرت کښی به سزا هم په همدی ډول وي، نو د یو مسلمان دپاره دا لازم دي او بایدډېر کوښښ، هڅه او هاند وکړي چې دخلکو د قرضونو(پورونو) او نورو حقوقو څخه ځان خلاص کړي او دا یقیني خبره ده چې څوک دخپل مسلمان ورور سره کوم څیزلري ضروربه یې د قیامت په ورځ ترې غواړي،

که قرضدار نیکي ولري ترې اخستل کیږي به ،اوکه نه د حقدار بدي اوګناهونه به پرې وراچول شي، بیشکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبروړکړی او فرمایلي یې دي:چې د مؤمن ساه او نفس به د هغه په پور (قرض) پورې تر هغه وخته بندوي تر څو یې پور( قرض) ادا کړی شي.

## دبدی پایلی اسباب:

### 1- وروسته والی په توبه کی :

یوازی الله جل جلا له ته له ټولو ګناهونو څخه توبه ایستل په هر بالغ انسان په هره لحظه او وخت کې واجب ده چې دالله جل جلا له دا فرمان هم پدې دلالت کوي : { وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ } د نور سورت(۳۱ )آیت.

ژباړه: او توبه وباسی تاسې الله جل جلا له ته ټول ای مؤمنانو دپاره ددې چې خلاصی ومومی ( په دنیا او اخرت کښی).پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره ددې چې ټول مخکیني او وروستني ګناهونه او خطاګانې ورته ښـل شوې وی بیایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هم الله جل جلا له ته په ورځ کې سل ځله توبه ایستله.پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: { «یا أیها الناس توبوا إلی الله فإني أتوب إلیه في الیوم مائة مرة»[33]**

**ژباړه: ای خلکو الله جل جلا له ته توبه وباسی ځکه چې زه په ورځ کې سل ځله الله جل جلا له ته توبه وباسم. په یقیني توګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم په بل ځای کښی په څرګند ډول بیان کړی دی :« التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لاَ ذَنْبَ لَهُ »[34].**

**ژباړه: هغه څوك چې د ګناه څخه توبه وباسي داسې دی لکه هیڅ ګناه یې چې نه وي کړې دخلکو په اړوند د ابلیس دهغه بریالیو مکرونو څخه یو هم دتوبې وروسته والی دی چې وایي خیر دی توبه به وباسم او ګناه کوونکي ته دا په زړه کې ورواچوي چې وخت ډیر دی د توبې د ایستلو په اړه دومره تیزي مه کوه او که اوس توبه وباسی بیابه ګناه ته بیرته راوګرځې او بیا د دتوبې دقبلیدو امکان نشته نو پدې صورت کې به دوزخي شې او اور ته به ننوزې، او یا دا په زړه کې ورواچوي کله چې پنځوسو یا شپیتو کلونو ته ورسیږې بیا به خالصه او سوچه توبه وباسي ،**

**همیشه به په جومات کښی وي او ډیر نیك عملونه به وکړي ، اوس ځوان یې او دعمر غوټی دې لا تراوسه نده غوړیدلې ، ډیر وخت باید په مزو او خوندونو کې تیر کړې، دالله جل جلا له په طاعت او عبادت باندې د لا داوس څخه ځان مه په تکلیفوه او داسې نور.**

**ځینی خلک وائی چی کله مړی وخاندی ( تبسم ) داهم د ښی پایلی دنښو څخه ګڼل کیږی خو شیخ منجد الصالح پخپله ویب پانه کی لیکی : کوم څه چی موږته معلوم دی کوم داسی صحیح او واضح شرعی دینی نص نشته چی دمرګ په وخت کی تبسم دښی پایلی د نښو څخه ده مګر د ګڼو نصوصو څخه داسی معلومیږی چی که مړی نیک بخت او نیک عمله وی نو کله**

---

١ـابن حجر عسقلانی، فتح الباری ج 11 ص 104[33]
٢ـ صحیح مسلم حدیث نمبر 2702

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی درحمت ملائیکی ووینی چی سپین مخونه اوورسره د جنت خوشبویه کفنونه موجود وی ، بیا کله چی ملک الموت ورته راشی دسرسره ئی کینی اوورته وبه وائی چی :

ای مطمئینه نفسه دالله جل جلاله مغفرت رضامندی ته لاړشه . دغه حدیث شریف امام احمد رحمه الله دحضرت براء رضی الله عنه په روایت سره راوړی دی: نوکله مړی ددی له امله تبسم کوی لکه دغه حدیث شریف چی دلالت پری کوی رواه أحمد عن طلحة بن عبيد الله عندما زاره عمر وهو ثقيل وفيه: إني سمعت من رسول الله صلى الله عليه وسلم حديثاً ما منعني أن أسأل عنه إلا القدرة عليه حتى مات، سمعته يقول: إني لأعلم كلمة لا يقولها عبد عند موته إلا أشرق لها لونه ونفس الله عنه كربته، قال: فقال عمر: إني لأعلم ما هي، قال: وما هي؟ قال: تعلم كلمة أعظم من كلمة أمر بها عمه عند الموت: لا إله إلا الله ؟ قال طلحة: صدقت هي والله. ومحل الشاهد من الحديث قوله: أشرق لها لونه. ولكن هذا مع النطق بالشهادة[35]

.ژباړه : امام احمد رحمه الله دحضرت طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه څخه روایت کړی چی حضرت عمررضی الله عنه ورته راغی اوحضرت طلحه سخت مریض وه نوېدی حدیث دی چی : ما دپیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه یوحدیث اوریدلی دی مانه منع کوی چی په اړه ئی پوښتنه وکړم مګرزما توانائی تردی چی مړشو ، مااوریدلی دی چی ویل ئی :

ما ته یوه کلیمه معلومه ده چی یو شخص ئی دمرګ په وخت کی ووائی رنګ ئی تازه ، اوتکلیف ئی تری لری شی . وائی ، نوعمررضی الله عنه وویل :

١ـ امام احمد په مسند أبی محمد طلحه بن عبيد الله په (نمبر 1384) روایت کړی ، امام البانی وائی : سند ئی صحیح دی، اوابن حبان په همدی ډول سره روایت کړی ، امام حاکم په (1 / 350، 351) والزيادة له، او ویلی ئی دی " صحيح على شرطهما " ووافقه الذهبي. احکام الجنائز ص ۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ښه پوهیږم چې هغه کومه کلیمه ده . حضرت طلحه وویل : هغه کومه ده ؟ عمررضی الله عنه وویل : ته پوهیږی کومه کلیمه به اوچته دهغی کلیمی څخه وی چی خبل تره (کاکا) ته ئی دهغی دویلو امر کړی وه هغه : لااله الاالله کلیمه ده ،

حضرت طلحه رضی الله عنه وویل : رښتیا د وویل همدغه ده په الله قسم .

دحدیث شریف څخه شاهد دمحل دادی چی . أشرق لها لونه . یعنی دمخ رنګ ئی روښانه شو ، مګرددی سره چی دشهادت کلیمه به هم وائی . دا هغه شیطاني چلونه اوفریبونه دي چې د توبې په وروسته والي کې یې شیطان په کاراچوي:

## 2 : دسوف لفظ :

ځینو پخوانیو نیکانو ویلي دي: تاسو د (( سوف)) د لفظ څخه وېروم ( او دا دوروسته والی په معنی دی) ځکه چی دا د شیطان لوی لښکردی،

د قاطع مؤمن ساری ( مثال) دا دی چې د هرې ګناه څخه الله جل جلا له ته توبه وباسي ځکه چې دبدی پایلې (خاتمې) څخه وېرېږی او د الله جل جلا له سره مینه لري.او هغه ګناه کوونکی چې وايي خیر دی توبه به وباسم او خپله توبه وروسته کوي د هغو خلکو په شان دي چې دخپل سفردپاره کلي ته ننوزي. هغه څوك چې خپل کارونه ښه برابروي د خپل سفرټول ضرورتونه او اړتیاوې ترسره کړي او دتګ دپاره تیارناست وي، ګناه کوونکی او سست انسان هره ورځ وايي: سبا ته به ځان تیارکړم په همدې کې شپې سبا کوي ترڅو چې دکاروان مشراعلان وکړي او ده هیڅ یو ضرورت هم نه وي پوره کړی په دنیا کې ځینې خلك همدا مثال لري.هغه مؤمن مسلمان چې د ځان غم یې خوړلی وي نیك عملونه یې کړي وي او د بدیو څخه یې ځان ژغورلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې مرګ ورته راشي پښیماني نه کوي مګر ګناه کوونکی مسلمان چې په خپل ځان يې ظلم کړی وي د الله جل جلا له حق يې نه وي پر ځای کړی او د خلکو حقوق يې خوړلي وي وروسته د مرګ څخه به وايي: ای ربه ما بیرته دنیا ته ولیږه ښايي نیك عمل وکړم او ستا د عذاب څخه دخلاصون لاروموم .

## ۳: د ګناه سره مینه او په هغې ځان عادت کول:

کله چی انسان کومه ګناه خوښه کړي او مینه ورسره پیدا کړي او دهغې نه توبه ونکړي شیطان د هغه په زړه د ګناه په وسیله منګولې لګوي د ژوند په وروستیو لحظو او شیبو( دساپه وتلو) کې هم د انسان په عقیده خپل حاکمیت ټینګوي تردې چې خپلوان يې د لااله الا الله کلیمه ور په يادوي او تلقین ورکوي چې له دنیا څخه د تلو وروستی خبره يې د توحید مبارکه کلیمه شي مګر ګناه يې په عقل اوعقیده غالبه کیږي او داسې اغیزه پرې کوي ، پداسې څیز اخته کیږي چې هیڅ ګټه نلري، چې ځینې يې د بیلګې په توګه وړاندې کوو:

یو سړی په بازارکې د لا ل و، کله چې مرګ ورته راغی اولاد يې د کلیمې ویلو تلقین ورکاوه او ورته ویل يې لااله الا الله ووايه نو ده به ویل: څلور نیمې ، څلورنیمې( یعنې خپلې روپی به يې حسابولې).

یو بل سړي ته چا وویل: لا اله الا الله ووايه هغه خپله معشوقه یادوله او خپل بد اعمال به يې تکرارول.

یوه بل سړي ته وویل شو چې: لا اله الاّ الله ووايه نو هغه د سندرو په ویلو پیل وکړ دا کیسې په جواب کافي 96مخ کې وګورئ .

او ځینې داسې هم وي چې مرګ ورته راشي او دی په ګناه کې ډوب وي نو الله جل جلا له ته به هم په همداسې وخت او حال کې ورشي چې ددې په وسیله به الله جل جلا له پرې په قهر کیږي په یقیني توګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"مَنْ مَاتَ عَلَى شَيْءٍ بَعَثَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ.[36]" ژباړه: څوك چې په كوم حالت مړشي الله جل جلا له به يې پداسې ډول بيرته ژوندی كړي چې د همغه كارپه كولو به بوخت وي. دا حديث حاكم روايت كړی د مسلم په شرط يې صحيح بللی دی اوذهبی هم ورسره موافق دی مستدرك .

## - اوږدې هيلې:

دا ډېرو خلكو دبدبختی لوی لامل دی كله يې چې شيطان دوكه كوي خيالي تصويرورته انځوروي او ورته وايي په مخكښې اوږد عمر او ډېركلونه لرې پدې كې به خپل اوچت ارمانونه پوره كړې.

نو ناپوه انسان ددې كلونو سره دمخامخ كيدو او دارمانونو د لاس ته راوړلو دپاره د هرڅه كه رواوي يا ناروا پوخ هوډ كوي،آخرت هيروي مرگ نه يادوي او كه كـومه ورځ د مرگ سوچ او فكرورشي نو ددې ياد څخه ځان ډېر په تنگ، خفه، اوستړی حس كوي ځكه چې د رفاهيت دښه ژوند مزې او خوندونه يې خرابيږي او پيغمبر صلی الله عليه وسلم ددې څخه ډېر سخت ويرولي يو او فرمايلي يې دي:" وَعَنْ «علي» رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رَفَعَهُ: «إِنَّ أَشَدَّ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ خَصْلَتَانِ: اتِّبَاعُ الْهَوَى وَطُولُ الْأَمَلِ، فَأَمَّا اتِّبَاعُ الْهَوَى فَإِنَّهُ يَصُدُّ عَنِ الْحَقِّ، وَأَمَّا طُولُ الْأَمَلِ فَإِنَّهُ الْحُبُّ لِلدُّنْيَا»[37]

ژباړه: د دوه خويونو د كولو څخه موزيات وېروم يو د نفس دغوښتنو تابعـداري او پيروي او بل اوږدې هيلې او اميدونه دي ځكه چې دنفس پيروي انسان د حق منلو څخه منع كوي او اوږدې هيلې لرل ددنيا سره مينه لرل دي او په زړه كې ځای وركول دي.

---

١ـ امام حاكم په ۴/ ۳۱۳په ۷۹۴۳ روايت كړی اودامام مسلم په شرط ئی صحيح كړی اوامام ذهبی ورسره موافق دی علی شرط مسلم ووافقه الذهبی. امام ألباني په "سلسلة الأحاديث الصحيحة" (283) 1 / 510،صحيح كـړی دی . -

١ـ احياء علوم الدين 354/4 مخ كی ددی حديث په تخريج كی ليكی : ابن ابی دنيا په ضعيف سند سره روايت كړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې انسان دنیاد آخرت څخه زیاته خوښه کړي او ښه یې وبولي نود هغې په ښایست ، ښکلا او خوندونو کې داسې مصروف شي چې په جنت کې د هغه کور دجوړښت چې الله جل جلا له صدیقینو، شهیدانو او نیکانو سره ورته خوښ کړئ وي مخ وګـرځوي پداسې حال کې چی پدې کسانو الله جل جلا له څـومره لویه پیرزوینه او احسان کړی او څومره ښه ده دداسې خلکو ملګرتیا، چې الله جل جلا له د چا په برخه کړې وي.

له دنیا څخه د هیلو د پرېکولو اثر پدې ډول څرګندېږي چې انسان نیك عملونه په تیزی سره تر سره کړي او د عمر هره لحظه او شیبه غنیمت وګڼي ځکه چې ساه ګانې په شماردي اوورځې ټاکلې شویدي او هغه څه چې تیر شـول بیرته نه راګرځي او په لارکې ډېر خنډونه لوړې ژورې شته، پیغمبر صلی الله علیه وسلم په خپل مبارك ارشاد سره داسې را ښوولې دي. « بَادِرُوا بِالأَعْمَالِ سَبْعًا هَلْ تَنْظُرُونَ إِلاَّ فَقْرًا مُنْسِيًا أَوْ غِنًى مُطْغِيًا أَوْ مَرَضًا مُفْسِدًا أَوْ هَرَمًا مُفَنِّدًا أَوْ مَوْتًا مُجْهِزًا أَوِ الدَّجَّالَ فَشَرُّ غَائِبٍ يُنْتَظَرُ أَوِ السَّاعَةَ فَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ»[38].

ژباړه: اووه کارونه په تیزی او چالاکی تر سره کړئ او د فتنو د راتلو څخه مخکې باید نېك عملونه وکړئ او هغې ته پام وکړئ اوددې څخه پخوا چې په تاسو داسې فقراو مسکیني راشي چې د عبادت او اطاعت په کولو کې خنډ شي ،اویا داسې ډېرمـال پیدا کړئ چې ستاسې د سرکشی سبب وګرځي ،او عبادت پرې هیرکړي او یا داسې سخت مرض سره مخامخ شئ چې دبدن توان مو له منځه یوسي او بیا عبادت نشی کولائ او یا داسې بوډاتوب ته ورسیږئ چې خبرې مو په واك کې نه وي او یا داسې مـرګ درته ورسیږي چې د توبې او یا وصیت وخت په لاس درنشي او یا ددجال تر راتلـو پورې انتظارکوئ چې وخت ډېردی او ښه عمل به وکړو څوك چې ددجال راتلو ته ګوری نو دجال ډېربد او بې خیره څیزدی ،او یا داچې دقیامت

---

١- داحدیث ترمذي په 2306 نمبرکتاب زهد کی روایت کړی او ویلی دی حسن اوغریب دی ، شیخ البانی وائی : ضعیف دی سلسلة الأحاديث الضعيفة 1666 " ضعیف الجامع الصغیر 2315 " )

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلو ته ګورئ نو قيامت هم ډېر سخت او ډېر تريخ دی، په انسان باندې چې په دنيا کې څومره ستونزې تيرې شوې وي دهغو ټولو څخه ډېر ستونزمن دی د حديث مطلب دادی چې انسان بايد ددغو څيزونو د راتلو او واقع کيدو څخه وړاندې نيك عمل وکړي. عبد الله بن عمر رضی الله عنهماوويل: پيغمبر صلی الله عليه وسلم زما په اوږه لاس کيښود او وېې فرمايل:" كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ ، أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ"[39] ژباړه: ای عبد الله په دنيا کې داسې اوسيږه لکه يو پردی اود ليرې وطن اوسيدونکی. په نابلد ځای کې او يا په لاره تيرېدونکی مسافر.عبد الله بن عمر رضی الله عنهمابه ويل: کله چې شپه درباندې راغله بيا د سباه انتظار مه کوه او که درباندې ورځ شوه بيا د بيګاه په انتظار مه اوسه په روغوالي کې دومره څه برابر کړه چې په مرض کې درپه کارشي او په ژوند کې دومره څه تيارکړه چې په مرګ اوآخرت کې د مشکل پرې حل شي.

پيغمبر صلی الله عليه وسلم مؤمنان له اوږدو هيلو څخه منع کوي :پيغمبر صلی الله عليه وسلم مؤمنانو ته ددې ښوونه کړې ده، د ډېرو اوږدو هيلولرلو څخه يې لري او ددنيا په اصل او حقيقت يې پوه کړي :

داوږدو هيلو په هکله دعلي رضی الله عنه وينا:

حضرت علي رضی الله عنه ددوه څيزونو څخه ډېر وېرېده يوه، اوږده هيله او اميد بل د نفس متابعت او پيروي ده .ده مبارك وويل:" فَاَماَ طُولُ اْلأَمَلِ فَيُنْسِي الآخرةَ وأمَا إِتَباعِ الهَوى فَيَصُدُ عَنِ الْحَقِ وَكَان يقول: ألا و إنَّ الدنيا قَد وَلَتْ مُدْبَرةَ وَالأْخرةِ قَدْ أَسْرَعَتْ مقبلةُ وَلِكُلِ وَاحِدَةَ مِنْهَا بَنُونَ فَكُونوا مِنْ أَبْناءَ الآخِرَةِ وَلاَ تَكُوُنوا مِنْ أَبْنَاءِ الدُنْيَا فَاِنْ اَلْيَومْ عَمَلُ وَلا حِسْابُ وَغداً حِسْاب ولا عَمَلَ"[40]ژباړه: هغه اوږده هيله اخرت هيروي او د نفس پيروي انسان د حق څخه منع کوي او

---

۲ـ فتح البارى ۱۱/ ۲۳۷د حديث نمبر ۶۴۱۶

صحيح مسلم کتاب الجنه نمبردحديث [40]۲۸۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندوي يې، او ده مبارك به ويل: پدې پوه شئ چې دنيا شاته لاړه او اخرت په ډېرې تيزى سره مخ ته راځي او د هريوه لپاره بلـونکي او خوښوونکي دي نو تاسـو د اخرت غوښتـونکي او خوښوونکي شئ او د دنيا خوښـوونکې مه کيږئ ځکه چې نن ورځ عمل شته حساب نشته او سبا حساب شته عمل نشته .

په اسلام کې ناڅاپي مرگ بد گڼل شوى دى ځکه چى انسان ته فـرصت په لاس نه ورځي او نه د توبې او ښه عمل زمينه ورته برابرېږي ښايي د گناه په حالت کې وي او پايله يې بده شي.

## ۴: پخپله ځان وژل:

كوم مسلمان ته چې غم او مصيبت ورسيد صبر يې پرې وكړ او د الله جل جلاله څخه يې اجروغوښت نو الله جل جلاله به اجرورکړي او که چيغې يې وهلې ناخوښي يې څرگندوله ځان يې خفه او په تنگ باله، ښه او غوره لاربي له مشکلاتو او مرضونو څخه همدا ځان وژنه بلله، نو په يقيني توگه گناه يې غوره کړه او د الله جل جلاله قهر او غوسې ته يې په تلوار مخه کړه، امام بخاري رحمةالله عليه د حضـرت ابو هريره رضى الله عنه څخه روايت كړى دى چې پيغمبر صلـى الله عليه وسلم وفـرمايل: " الَّـذِى يَخْنُقُ نَفْسَهُ ، يَخْنُقُهَا فِـى النَّارِ ، وَالَّذِى يَطْعُنُهَا ، يَطْعُنُهَا فِـى النَّارِ "[41] . ژباړه: څوك چې خپل ځان په زندى كولو ووژني په دوزخ کې به هم په همـدې عمل باندې بوخت وي او څوك چې خپل ځان د وسلې په سبب ووژني دجهنم په اور کې به هم په همدې كړنه لگياوي او خپل ځان به ولي او ووهي به يې.امام بخاري او امام مسلم رحمةالله عليهما دواړو له حضرت ابو هريره رضى الله عنه څخه روايت كړيدى چې هغه وفرمايل: " شهد رجل مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ فَقَالَ رسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ مِمَّنْ مَعَهُ يَدَّعِي الْإِسْلَامَ هَذَا مِنْ أَهْـلِ النَّارِ فَلَمَّا حَضَرَ الْقِتَالُ قَاتَلَ الرَّجُلُ مِنْ أَشَـدِّ الْقِتَالِ وَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ فَأَثْبَتَتْهُ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ

---

[41] ابن حجر فتح البارى ج 11 ص 507.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اللهِ أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ الَّذِي تَحَدَّثْتَ أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِقَدْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ فَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِفَكَادَ بَعْضُ الْمُسْلِمِينَ يَرْتَابُ فَبَيْنَمَا هُوَعَلَى ذَلِكَ إِذْ وَجَدَ الرَّجُلُ أَلَمَ الْجِرَاحِ فَأَهْوَى بِيَدِهِ إِلَى كِنَانَتِهِ فَانْتَزَعَ مِنْهَا سَهْمًا فَانْتَحَرَبِهَا فَاشْتَدَّ رِجَالٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ صَدَّقَ اللهُ حَدِيثَكَ قَدِ انْتَحَرَفُلَانٌ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بِلَالُ قُمْ فَأَذِّنْ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَإِنَّ اللهَ لَيُؤَيِّدُ هَذَا الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ" [42]ژباړه: يو سړي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره د خيبر په غزا کې ګډون وکړاو دې سړي ځان مسلمان هم باله پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دا دوزخي دی، کله چې جګړه پيل شوه نو دې سړي ډېر سخت جنګ وکړ چې په نتيجه کې ټپي شو، پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته يو صحابي وويل: ای د الله جل جلا له رسوله د هغه سړي په هکله چې تا اوس وفرمايل هغه دوزخي دی، ډيره سخته جګړه يې وکړه او مړ شو پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل هغه دوزخ ته لاړ. نږدې وه چې ځينې مسلمانان پدې سره شك وکړي او حيران شول ،دوی په همدې حالت کې وو چې يو سړی راغی او ويې ويل: هغه سړی مړ نشو بلکې هغه سخت ټپي شو کله چې شپه شوه د ټپ درد ته يې تاب او طاقت ونشو کړای نو بيا يې خپل ځان پخپله وواژه او پيغمبر صلی الله عليه وسلم يې پدې پيښه خبر کړ هغه مبارك وفرمايل: "الله اکبر" زه پدې ګواهي ورکوم چې زه د الله جل جلا له بنده او دهغه استازی ( رسول) يم بيا يې بلال رضی الله عنه ته امر وکړ: "په لوړ آواز خلکو ته اعلان وکړه چې پرته له مسلمان څخه بل څوك جنت ته نشي ننوتی بيشکه الله جل جلا له د اسلام دين ديوه فاجر او بدکاره سړي په وسيله هم ټينګوي او مرسته يې کوي"

---

[42] متفق عليه: بخاري په 125/6 مخ او مسلم په 111 نمبر روايت کړی دی. ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵: بد ملګرې:

ددې دامطلب دی چې دبدې پايلې داسبابوڅخه يوهم دبدملګرې ملګرتيا اودهغه توصيې او نصيحت ته غوږ ايښودل دي چې په اصل کې دبد ملګرې په ذريعه دجهنم کندې ته ورټيلوهل کيږې اوهغه داچې دغه بدملګرې ئې په حقيقت کې دښمن دې.

کله چې دخپل بد او ناکاره ملګرې سره يوځاې شې نو د دنيا او دهغې دزينت او ښايست په اړه ورسره خبرې کوې ، دګناهونوپه ارتباط ورسره غږيږې نو دغه ملـګرې پدې سخت حالت کې کومه ګټه نه ورته رسوې بلکې پوره تاوان اوزيان دی.

لکه چې دحضرت سعيد بن المسيب څخه روايت دی چې دخپل پلارڅخه روايت کوې چې کله : ابو طالب ته مرګ راورسيد پيغمبرصلى الله عليه وسلم ورته راغی دابوطالب سره ابوجهل اوعبدالله بن أمية ناست وه نو پيغمبرصلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : اې کاکا! لااله الاالله کليمه ووايه چې دالله جل جلاله په وړاندې پدې کليمه باندې ستاپاره دليل وړاندې کړم ، نو پدې درشل کې أبوجهل اوعبدالله بن أميه وويل : اې أبوطالبه ! ايا دعبدالمطلب دلارې اوملت څخه ګرځې تردې چې دابوطالب آخرې خبرې داسې وې چې هغه دعبدالمطلب په ملت اولاره دی ، اوددې څخه ئې انکاروکړ چې کليمه طيبه لااله الاالله ووايي ، نو پيغمبرصلى الله عليه وسلم وفرمايل : " لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَا لَمْ أُنْهَ عَنْكَ".[43] يعنې : ترهغه به درته مغفرت غواړم ترڅومنع شوې نه يم نو دالله جل جلاله دغه مبارک فرمان نازل شوچې : {مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْكَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ }[التوبة: 113][11].

---

[43] ١-دغه واقعه ابن کثير په تفصيل سره ذکرکړيده سورت توبه آيت ١١٣ امام احمد مسند (533/5) مخ امام بخاري په مناقب الأنصار ، نمبر 3884، "فتح الباري" 7/ 193، اوامام مسلم 1/ 54 په کتاب الإيمان, نمبر 24.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : نه دی روا پیغمبر ته او نه هغه کسانو ته چی ایمان ئی راوړی دی داچی ښنه به وغواړی دپاره دمشرکانو اګرکه وی

دامشرکان دخپلولی پس له هغی نه چی ښکاره شی دوی ته داچی بیشکه دوی یاران ددوزخ دی .

## دامام زین العابدین رحمةالله علیه دغربت اویوازیتوب دقصیدی ژباړه:

مسافر هغه څوك ندی چې دشام اویمن په سفردرومي اویوازې وي، بلکې غریب اویوازې هغه څوك دی چې یوه لحدته

دیوه کفن سره ځي. مسافردسفر اویوازیتوب په حالت کې په ،هغو خلکوچې کورونه لري اوکوربه وي حقوق لري . غریب

اوبې وطنه مسافرمه رټه ، ترڅووخت اوزمانه تادخواری اوذلت سره مخامخ نکړي .

سفرمې اوږددی قوت مې کمزوری شوی توښه مې کمه اومرګ مې خپلې خواته کشوي زه دداسې ګناهونو مرتکب شوی یم

چې هغه راته معلومې ندي، بلکې یواځې الله جل جلا له مې په پټو اوښکاره ګناهونو خبردی .

الله جل جلا له څومره دلوی مقام اوعظمت څښتن دی چې ماته یې وخت اومهلت راکړی ، زه ګناه کولوته ادامه ورکوم

اوالله جل جلا له پټې ساتلې دي.دژوند شیبې مې پرته له توبې څخه تیرېږي، نه ژاړم نه دوېرې څه اثررابانديې شته اونه خفه

یم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په خپل لاس دګناه کولو په واسطه دبښني دروازې بندوم، خو الله جل جلا له  ماويني . په بې پروايي اوغفلت کې

دڅومره غټې ګناه مرتکب شوم، څومره افسوس اوارمان دی چې په زړه يې راته اوربل کړی دی . ماپرېږده چې په خپل حال

وژاړم ،افسوس وکړم اوله دنياڅخه دپند ، عبرت اوغم په کولو خدای په اماني وکړم . مامه ملامتوه اودد ې کارڅخه

سترګې پټې کړه که زما په حا ل باندې خبرشې نومابه معذوروګڼې . ماپرېږده چې خپلې اوښکې دتوئيدوپه وخت کې پاکې کړم

، ايا داهيله شته چې دااوښکې به زما دخلاصون سبب شي . زه خپل ځان داسې ګڼم چې دخپل کور په منځ کې په، يوفرش

پروت يم اوددوی لاسونه به مې يوخوا بل خواته اړوي . زه فکرکوم چې زما څخه تاودي ، ځيني افسوس کوي اوخفه دي ،

ځيني ژاړي اوزما په مرګ خفګان څرګندوي . هغوی طبيب راولی چې زما دارو  وکړي اوزه فکرنه کوم چې نن به طبيب ماته

څه ګټه ورسوي . دروح وتل مې سخت شوي دي ،دمرګ خواته کشول کيږم اودهررګ څخه  مې په سختی دروح وتل پيل

شوي دي . دغرغرې په وخت کې مې دجسم څخه روح ووتله ، دروح دوتلو په وخت کې مې دخولې لاړې ترخې شوې . زما

سترګې يې وتړلې اوتول راڅخه لاړل زما دژوندي پاتې کيدلوڅخه بې هيلې شول اودکفن راوړلو په لټه کې شول .په چاچې زه

ډيرګران وم په منډه دمړو غسل خانې ته ورغلل ترڅومړي وينځونکي راولي اوماپريمنځي . اوومې ويل ای خلکو يوادبناك ،

هوښيار، ښه اخلاقي مړي وينځونکي ته اړتيالرم ،مړی وينځونکی راغی اوجامې يې راڅخه ويستلی ، زه يې لوڅ اوبربنډ کړم .

زه يې په تخته واچولم، اودپاسه يې راباندې اوبه واچولې ترڅو بدن مې پاك شي. دری ځلې يې غسل راکړ اوکفن  يې

راوغوښت .

ماته يې پرته له لستو نو څخه جامه راواغوستله اوخوشبويي يې راباندې ووهله زه ددنيا څخه لاړم خوډيرافسوس پدې

دی چې زه دې سفرته توښه نلرم .زه څلورو کسانو په تخته واخستلم اونورکسان زما په جنازه پسې روان شول زه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجومات محراب ته یوړم اودوی راځخه ستانه شول په ما پسې ودرېدل ،دجنازې لمونځ یې اداکړاو زما سره یې خدای په

اماني وکړه .

خلکو په ماباندې درکوع اوسجدې ځخه پرته لمونځ وکړشایي ددې په واسطه الله جـل جلا له په مارحم وکړي . زه یې په

قراره په قبرکې کیښودم اوله دوی ځخه یوکس قبرته راښکته شو ترڅو ماپه لحد کې وردننه کړي .

زما دمخ ځخه یې کفن پورته ،کـړترڅود وروستي ځل لپاره زما سره وګـوري، دسترګوځخه یې ښکته اوښکې تویې شوې

اوزه یې په اوښکوکې ډوب کړم . زما ددرناوي لپاره پاځیده اوزماله پاسه یې خښتې برابرې کـړې اوله قبرڅخه ووت اوویې

ویل: خاورې پرې واچوئ اودالله جل جلا له ځخه چې ډیرمهربان اوداحســان ځښتن دی ښښنه وغواړئ . دقبرپه تیاره کې

یې پرته له ګرانې مور ، مهربان پلار اوهغه ورور چې زما سره مینه وکړي یوازې پرې ښودم . هغه ځه چې ماپه سترګوولـیدل

ډېرې ووېرولم ځکه چې دهغه سره مخامخ کـیدل ډیرویروونکی وو . نکیراومنکرو ځکه ځواب به ورکوم زه دهغوی ځخه

ډېرووېرېدم ځکه چې دهغوی شکل اومنظرډېروېروونکی وو. زه یې په قبرکې کیښودلم اوپوښتنې ډیرې سختې وې، ای الله

جل جلا له پرته له تاځخه بل مرسته کوونکی اوژغورونکی نلرم . نوپه مااحسان وکړه اوماوبښه ، زما دهیلې ځای ته یې ،

ځکه چې زه دخپلې ګناه سره بنداوګراویم . زما خپلوان دمقبرې ځخه لاړل ،زما مال یې وویشه ؟اوګناه پرمانوره هم درنه

شـوه ښځې مې بل میړه وکړاوهغه ته یې زما دمال اوشتوواك ورکړ. ښځې مې زما زوی ېې دهغه نوي میړه خدمتګارکړاوزما

شته هغوی ته وړیا په لاس ورغلل . باید دنیا اودهغې زینت اوښکلا تاونه غولوي ځکه چې دې دنیا دوطن اووطنوالو په

هکله څه ونکړل . هغه چاته وګوره چې په دنیا پسې یې منډې وهلې ایا پرته له خوشبویي اوکفن ځخـه یې نورڅه یوړل!!!؟

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دنيا کې قناعت خپل عادت اوخصلت وګرځوه اوپه هغه خوښ اوسه که څه هم دجسم اوبدن له راحت اوهوساينې پرته بل څه نه وي . ای دخير اونيکۍ کوونکيه ! ته به دخپل عمل حاصل حتماً اخلې.

اوای دشر کوونکيه! دشر څخه ځان وساته اوجزابه يې وينې . ای نفسه! دګناه څخه ځان وساته ،دخير اونيکۍ کاروکړه ، ای الله جل جلا له په مارحم وکړه . ای نفسه! پرتاافسوس توبه وکړه ، دخير اونيکۍ کاروکړه ځکه چې له مرګ څخه وروسته به دهغې بدل په لاس درځي .

په پای کې دزمونږ په غوره کړل شوي اوپاك پيغمبردرود وی ،ترهغه چې په شام اويمن کې لمرراخيژي .

سهاراو ماښام الله جل جلا له ته ثنا اوستاينه د ه، دخيرعافيت نيکی اواحسان لپاره .

## دځينی وبائی مرضونو وضاحت :

### طاعون ( وبا، کولرا):

يوه خطر ناکه ساری ناروغی ده مکروب يي په 1894م کښې ير سنی yersin کشف کړي دی دا ناروغی په دوو ډولو څرګنديږی:د سنجکی (دمل) په ډول او بله يي په ريوی ( ذات الريه ) ډول . عوارض يي تر پنځـو ورځو وروسته څرګنديږی او هغه دادی چې ناروغ د سـر په درد، لـرزی، سختی تبی، سر ګـرځيدو د لنفاوی غـدو په التهاب د پښتورګو توری ( طحال) او د اينی په پاړسوپ اخته کيږی اپلتی وايي په ورانه يا تخرګ يا غاړه کښې يي د چارمغـزپه اندازه دردناکه پړسوپ پيدا او تربوي اونی ( هفتی ) وروسته نم کوی. (1)

(دوهم ) :- سل ( نری رنځ )د سږو ناروغی، توبرکلوز، توبر کيولوسس، ټی بی T.B يوه ناروغی ده ) چی: ميکروب يي په 1882م کال د يوه المانی پروفيسور په واسطه چی کنج نوميده کشف شو د بسيل په واسطه منځ ته راځی او د عضويت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختلفو برخو باندی اخته کیږی دا ناروغی عموماً په ناتوانو او کمزورو خلکو کښي را پیدا کیږي او د ټولنیزو ناسمو شرایطو سره ټینګ ارتباط او اړیکی لری د نفوسو دزیاتوالی او په تیره بیا فقر او د لمر د وړانګو څخه نه استفاده دناروغی په تقویه کښي پوره مرسته کـوی.

سل مختلف ډولونه لری چی مهم یي دادی:

## ۱:- د سږی سل:

د کوخ د بسیل په وسیله پیدا کیږی دغه بسیل د تنفس له لاری سږو ته داخلیږی او هغه په مختلفو درجو سره مصابوی.د ناروغی عمومی نښی: تبه اوټوخی، ډنګروالی، بی اشتهایي او نور دی. ناروغ تل کسالت لری او جسمی فعالیت یی د منځه ځی د تداوی او علاج دپاره يي روحی او جسمی استراحت او په انتی بیوتیکوستریتومایسین ( د ورځی یوګرام) یا دی هیدرو بتومایسین، ایزونیازید باس P.A.S توصیه کیږي.

## ۲:- د کولمو توبرکلوز:

کله کله د ناروغی عامل د هغوخلکو په وجود کښي چی د سږی توبرکـلوز لري دخپلوبلغمودتیرولو په اثر معدی ته ځی او دهغه ځایه بیا په کـولمو کښي ځاي نیسي او کله بیا پداسی حال کښي چی د ناروغ سږی روغ وی مرض په کولمو کښي پیداکیږي. دا وروستی ډول یي زیاتره د هغو غواوو د شیدو د خوړو څخه را پیدا کیږی چی مسلولي وی. ددی مرض تشخیص د سږی د توبرکلوز د لرلو د سابقي یا د بطن دردونو د پیدا کیدو او ځینی په حرقفی حفره کي د پاړسوپ د پیدا کیدوله مخه کیږی اوکله بیاناروغ په یوه دوامداره اسهال اخته وی چی دا نښی د کولمو سل تاییدوی دا اسهال په واقعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې د سل مخصوصه دارويي ماده د عرضی تداوی سره استعمالیږی او د نس دپاړسوب په صورت کي که دارويي تداوی

اثرونه کړی نو د جراحی څخه کار اخستل کیږی.

## ۳- دخصیتینوتوبرکلوز:

عموماپه تالي صورت سره منځ ته راځي اودپوښتورګوبډوډي)اوبولي لارودتوبرکلوزي آفت څخه وروسته پیښیږي،دغه

آفت په نادرډول دسږي دتوبرکلوزڅخه وروسته راپیدا کیږي،تداوي يي دارواوجراحي عمل ده.

## دسل نور ډولونه :

دسږي جاورسي سل، دهډوکو او مفصلونو توبرکلوز، دزنګانه دمفصل توبـرکلوز، دحرقفي دمفصل توبرکلوز،دعجزي

حرقفي مفصل توبرکلوز، عضدي ترقوي مفصل توبرکلوز، دفقاري ستنې توبرکلوز،دلنفاوي غداتو توبرکلوز دپښتورګو

توبـرکلوز ، دسحاياوو توبرکلوز ...... اوداسې نور.[44]

الهم اجعل خير أعمالنا خواتيمها، وخير أعمارنا أواخرها، وخير أيامنا يوم نلقاك فيه، اللهم وفقنا جميعا لفعل الخيرات

واجتناب المنكرات . وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه.

---

۱- دریم ټوک د۲۶۷۲ څخه تر ۲۶۷۳ پوري مخونه ، فرهنګ عمید۱۲۱۹ مخ (1) د پښتو ، پښتو تشریحی قاموس 4 ټوک 2074 مخ د ژباړونکی له پلوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله:(خاتمه )

ددی لیکنی په پایله کی ویلی شو چی: دانسان ټول ژوند دسرنه ترپایه پوری ټول دعمل اودکار شپې ورځی دی ترڅوانسان وکولای شی چی دښې پایلې غوښتونکی شی اوکه وغواړی دابه دامکان څخه لری نه وی چی ښه پایله دانسان په نیک بختی باندی دلالت کوی، اواسلامی شریعت دښې پایلې لپاره هم نښې اونښانی پریښې دی اوهم ددی کار موانع یی بیان کړی دی چی پدی رساله کی دښه پایلې نښې هم بیان شوی اوموانع یی هم اودهر مانع لپاره یو علاج شته چی ددی موانعو علاج هم بیان شوی دی، ددی ترڅنګ بده پایله هم شته چی ځانته نښې اوعوامل لری چی هغوته هم اشاره شوی ده ترڅو ددغو عواملو څخه ځانونه وژغورو او ددی په بدل کی ښې پایلې ته ځان ورسوو. که په لنډه توګه ووایو ددی رسالی ترڅنګ موږ په لاندی توګه مهم اوضروری شیان لاس ته راوړی دی :

۱- دانسان دټول عمر کړني دانسان په پایله کی نغښتی دی، دټول عمر عمل اوکارونه دانسان دخاتمې پوری اړه لری که آخره خاتمه دانسان ښه وه نو ددی ټول ژوند ددی پوری تړلی ده،که یوچا ټول عمر کی ښه کارونه کړی وی خو آخره خاتمه یی ښه نه وی په بده خاتمه باندی ددی فیصله کیږی اوکه ټول عمر یو انسان بد اوناوړه کاورنه ترسره کړی وی خو آخرعمر کی دی ښه شی نو ددی انسان آخره خامه ښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- الله جل جلاله هرشی لپاره یو علاج ایښی دی ترڅو هرانسان وکولای شی چی دخپل مرض درمل اوعلاج ومومی نو دانسان دښی پایلی لپاره په لارکی خنډونه شته چی دا هم یو لوی مرض دی خوددی لپاره هم علاج شته چی انسان دغه خنډونه لری کړی اوخپله آخره خاتمه ښه کړی.

۴- ځنی داسی مرضونه اوآفتونه دی چی انسان ته په ظاهره کی بد ښکاری او نه یی خوښوی خو په حقیقت کی هغه ټول دانسان دآخرت ښه والی لپاره مقرر شوی دی لکه هغه مرضونه چی پدی رساله کی ترینه بحث اوڅیړنه وشوه.

۵- پایله دانسان مهم اوحساس پړاو دی چی ددی پړاوڅخه تیریدل لویه مبارزه غواړی دشیطان په مقابل کی ددی وجی نه شیطان انسان ته هیلی او امیدونه اچوی چی داد مهمولاملونوڅخه ګڼل کیږی .

۶- په دی څیړنه کی دقبر اومړو سره سروکارلرل یاد شول چی همیشه دانسان په ذهن کی مرګ یاد وی ترڅو وکولای شی چی دشیطان په مقابل ودریږی او دهغی له وسوسو سره دهلاکت په کنده کی ونه غورځیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځلیکونه


قرآن کریم

1- إبن رجب عبد الرحمن بن شهاب الدين زين الدين، أبوالفرج، جامع العلوم والحكم .فى شرح خمسين حديثا من جوامع الكلم ، طبع دار ابن كثير1427هـ .

2- إبن قيم الجوزية محمد بن أبى بكربن أيوب ابن قيم الجوزية أبوعبدالله / الجواب الكافى لمن سأل عن الدواء الشافى / طبع مجمع الفقه الاسلامى بجدة عام ١٤٢٩.

3- إبن كثير، إسماعيل بن عمر،تفسير القرآن العظيم (تفسير ابن كثير) (ط. العلمية. المحقق: محمد حسين شمس الدين ، منشورات محمد على بيضون بيروت لبنان طبع ( ١) عام ١٤١٩هـ ق .

4- البانى، احكام الجنايز، وبدعها، طبع المكتب الاسلامى عام 1385 ق بيروت لبنان.

5- ألشائع، خالد بن عبد الرحمن ، علامات و أسباب حسن الخاتمة و سوء الخاتمة. بدون تاريخ.

6- ألعنزى، عبد ، أسباب حسن الخاتمة العقد الثمين لعيد العنزي دانترنيت نه په استفادى سره .

7- امام احمد بن محمدبن حنبل ، كتاب زهد، طبع دارالكتب العلميه بيروت لبنان .بدون تاريخ.

8- إمام مالك ، أنس بن مالك ، مؤطاامام مالك رح تصحيح اوترقيم محمدفؤادعبدالباقى داراحياء الكتب العربيه قاهره مصر.بدون تاريخ.

9- بخارى، محمد بن اسماعيل، صحيح بخارى ، المكتبه السلفيه القاهره مصر دريم چاپ.

10- پښتو تشريحى قاموس دافغانستان دعلومواكادمى دولتى مطبعه ١٣۶۵ لمريزكال دچاپ نظارت كوونكى سرڅيړونكى حبيب الله اپريدى.

11- ترمذى، محمد بن عيسى، سنن ترمذى شرح وتحقيق احمدمحمدشاكروآخرون دارالكتب العلميه بيروت لبنان الطبعه الاولى ١۴٠٨عام.

12- خطابى معالم السنن المطبوع مع سنن أبى داؤد .اعداد وتعليق عزت عبيدالدعاس وعادل السيد طبع دارالحديث بيروت لبنان عام ١٣٩۴هـ ق .

(c) ketabton.com: The Digital Library

13- دارمنگی پښتو ترجمه دقرآن کریم / اداره اشاعت اسلامیه لاهور پاکستان .بدون تاریخ.

14- دیوبندی، أبوالحسن، تفسیرکابلی چی بیا دافغانستان علماء کرامو په پښتو اودری ژبو ژباړه.

15-سجستانی، سلیمان بن اشعث بن إسحاق أبو داود الأزدي السجستاني / سنن ابی داود ، طبع في دار الحديث حمص 1394 بتحقيق " عزت عبيد الدعاس" ومعه " معالم السنن للخطابي ".

16- شاه فیصل ، فهم القرآن، شاه فیصل کتابخانه محله جنګی پیښور پاکستان .بی له تاریخه.

17- شیبانی، إمام احمد، مسندامام احمد بن محمد، تصویرالمکتب الاسلامی بیروت لبنان .

18- طبرانی، سلیمان بن احمد ، المعجم الاوسط، دارلحرمین قاهره مصر عام 1415 هـ ق

19- طبرانی، سلیمان بن احمد المعجم الکبیر، تحقیق حمدی عبدالمجیدالسلفی العراق .طبع مکتبه ابن تیمیه،

20- طیالسی، أبی داوود ، سلیمان بن داود ، دارهجر مصر چاپ اول 1419 هـ ق .

21- عبدالله ابن مبارک ، زهد، طبع دارالکتب العلمیه بیروت لبنان.1425 هـ ق .

22- عسقلانی، ابن حجر، الاتحاف الجلی بتقریب اطراف المسندالحنبلی، تهذیب،خلیل مامون شیحا دارالمعرفه بیروت لبنان الطبعه الاولی ۱۴۳۱قمری .

23- عسقلانی، حافظ إبن حجر ،فتحالباری شرح صحیح البخاری تحقیق محب الدین الخطیب ،المکتبه السلفیه القاهره مصررقم الطبع 3.

24- عظیم آبادی محمد شمس الحق عون المعبود شرح سنن أبی داؤد .طبع دارالفکرعام 1415هـ ق .

25- عمید، حسن، فرهنګ عمید انتشارات امیرکبیرتهران چاپ هشتم ، 1371 هـ ش

26- غزالی، ابوحامد محمد بن محمد، احیاء علوم الدین، طبع مرکز الاحرام للترجمه والنشر قاهره مصر طبع اول 1408 هـ ق .

27- قزوینی، أبی عبد الله محمد بن یزید، سنن ابن ماجه تحقیق وترقیم محمدفؤادعبدالباقی طبع دارالریان للتراث قاهره مصر.

28- قشیری، مسلم بن حجاج، صحیح مسلم ، دارالکتب العلمیه بیروت لبنان.

29- مبارکپوری،محمد بن عبد الرحمن، تحفه الاحوذی، شرح سنن الترمذی المکتبةالسلفیة بالمدینة المنورة.

(c) ketabton.com: The Digital Library

30- منذرى، عبد العظيم الترغيب والترهيب من الحديث الشريف، الطبعة الثالثة عام ۱۹۶۸للميلاد دارالايمان دمشق – بيروت .

31- نسائى، أحمد بن شعيب ، سنن النسائى بشرح الحافظ جلال الدين السيوطى وحاشية الامام السندى ، مكتب المطبوعات الاسلامية حلب سورية .

32- نيسابورى،أبوعبد الله محمد بن عبد الله الحاكم المستدرک على الصحيحين طبع دارالكتب العلميه..1422.

33- هيثمى، إبن هيثمى ، مواردالظمآن فى زوائد ابن حبان تحقيق محمدعبدالرزاق حمزه دارالكتب العلميه بيروت لبنان .

34- هيثمى، حافظ على بن أبى بكربن سليمان الهيثمى نورالدين تحقيق محمد عبدالقادرأحمد عطاء مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ، الناشر: دارالكتب العلمية ، سنة النشر: ۱۴۲۲ه ق .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**